ويده ضميره بيداريږي كله ؟

# وا معتصما!!!

## اې معتصمه !!!

دوخت معتصم اومحمدبن قاسم ته دفاطمې النورې اوعافيې صديقې چيغې اوفريادونه

Ketabton.com

ليکوال : نقيب الله (احمدي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ

هغو مظلومو خویندو ته، چې دحیا لوپټې یې خیرې- خیرې شوې دي. موسکاګانې یې تروږل شوې دي، او د زندان دتورو تمبو تر شا د معتصم دورتلو په انتظار شپې سبا کوي.

دامت هغو پتمنو لوڼو ته، چې ایمان او غیرت یې دحیا او عفت د پردو تر شا معصومې مسکاګانې تاندې ساتلې دي.

هغو شازلمو ته چې د خپلو خویندو دعزت دساتلو لپاره یې خپلې خیالي ځوانۍ په اورونو لوپه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دردونو او ویرونو انځور

د ختیځ نومیالي فیلسوف، شاعرِ اسلام علامه اقبال(رح) پرځای ویلي:

چو میگویم مسلمانم بلرزم

کـه دانم مشـکلات لااله را

موږ ته د اسلام سپېڅلی دین د یوه میراث په ډول پاتې دی، او دا رښتیا ده، چې پلار ګټلي زوی ته اسان وي. مسلمان کیدل خو یواځې دا نه دي، چې خوره، څکه، څو بدني عبادات ترسره کوه، او نور هېڅ غم مه کوه. نه؟ د ((امت وسط)) مسؤلیت ډېر درونـد دی. که له یوې خوا راته د انسان په حیث د خلافت ربړه را تر غاړې ده، نو له بل پلوه د ((الهي پیغام)) پلي کول مو د مسلمان په توګه غایي هدف دی. او ددې لپاره باید دنبوي مبارکو لارښوونو یوه ځلیدونکې هینداره ((تخلقوا باخلاق الله)) شو. یو ځل بیا د حضرت اقبال ملکوتي چغه او خپل مکلفیت سره پرتله کوو:

یه شهادتگه الفت مین قدم رکهنا هي

لوگ اسان سمجتهي هو مسلمان هونا

دا خو د مینې په شهادتځي کې قدم ایښودل دي. خلکو مسلماني ډېره اسانه ګڼلې ده. دا دکوم مسلمان مفکر وینا ده، چې د اسلام شاهین دیرش کاله په مکه معظمه او مدینه منوره الوتنې وکړې، او بیرته اسمان ته والوت. اسلامي نړۍ چې څومره کمونیزم وسوځوله، او نن یې څومره غربي دیموکراسي زوروي.دا له هیچا نه پټه نه ده. زه نه پوهیږم، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موږ غونډې مسلمانان به يواځې په ځان ساتنه او يا پر دې عذر چې بې وسه يو، د مسؤليت له ستر احتسابه وژغورل شو ؟ نه هيڅکله نه ؟.**

**تاسو باور وکړئ، چې له دې څو پاڼو لوستلو وروسته خو زما اول له خپل ځانه او بيا له ټولې اسلامي نړۍ خوا بده شوه، او په دې وويريدم، چې اسلام چېرته او موږ چېرې، موږ ددنيا د ډېر لږ ژوند لپاره تلپاتې اخرت هېر کړی دی. داسې ونشي؟، او داسې به خامخا کيږي، چې د سرغړوونکو او زموږ غونډې د تشو کالبوتونو بې احساسو پر ځای د الهي(ج) سنت له مخې متبادل امت او خلك راځي. ځکه الله تعالی د خپل دين د ساتنې ژمنه کړې ده.**

**خو له دې سترې نيمګړتيا سره سره لا د امت په خوږلن کې د سکروټو څو بڅري شته، چې د اور اورکو غونډې رڼا کوي، او هغه د حمزه بابا خبره:**

**د څپې غونډې چې ورك شم په امو کې**

**د توپان غونډې را پورته په اټك يم**

**زلمي ليکوال او روڼاندي ښاغلي نقيب الله ((احمدي)) زموږ له روان ناورين نه د اسلامي امت د ويښتابه لپاره د دردونو، زګيروو او زخمونو يو څو بيلګې را ټولې کړې، او هغه يې د ماضي په تناظر کې کړيدي. هغه چې ويده ضميرونه بيدارولی او ويښو ته د غيرت پارونې يو ستر پيغام لري. ليکنۍ ژبه يې روانه، ساده او د ليکوالۍ پر بنسټونو برابره ده. داسې چې له بلاغت سره د ابلاغ بهير په ښه توګه پر مخ وړي، او کله کله خو يې جملې او ترکيبونه دومره لوړ پيغام پر اوږو واخلي، چې د لويو پوهانو وجيزه ترې جوړه شي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**((د یوه ولس د عظمت تاریخونه تل په هغو وینو لیکل کېږي، چې تویدلو ته بې تابه وي، چې وینې وچې شي، اوښکې بیا نه پکارېږي)).**

**یو ځل د روسانو د یرغل پر وخت د پاکستان مشر مرحوم جنرال ضیاءالحق ویلي وو، چې د افغانانو ددې سترو قربانیو د قلمبند کولو لپاره خو د یوه ((نسیم حجازي)) اړتیا ده. دا خبره سمه وه، افغانانو چې د روسانو پر ضد کومې قربانۍ ورکړې، نن سبا ورته څوک هیڅ ارزښت نه ورکوي. دا ځکه چې موږ یوه سالمه جهادي رهبري او داسې قلموال نه لرل، چې دغه د ((پېړۍ معجزه)) د هنر په ژبه تلپاتې کړي.**

**زه د درانه قلموال ښاغلي نقیب الله ((احمدي)) په تندریز احساس کې د ویښتابه ولولې ځپاندې وینم، او که دغه بهیر همداسې د زړه په وینو خړوب وساتي، نو د هیواد د مستقبل پر افق به د ځلیدونکي ((سبا ستوري)) غوندې هر سپېده چاود په وړانگو وي.**

**دده د فن د ابدیت په هیله**

**ناگار**

**پوهنتون مېنه**

۲۶\۱۱\۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

## دهغې نجلۍ فریاد چې دهندوستان تاریخ یې بدل کړ

**ناهید**

دسریلانکا دسراندیپ په ټاپو کې له پخوا ،ځینې عرب سوداګر اوسیدل. دوی به خپل هېواد ته د تجارت لپاره تلل را تلل؛ خو کله چې د اسلام سپېڅلی دین دعربو په صحرا کې را څرګند شو؛ نو له دوئ سره هم د خپل نوي دین مینه او تلوسه پیداشوه، چې په اول ځل ابوالحسن دې ټاپو ته له سوداګرۍ او د اسلام له پیغام سره راغی. او دې ټاپو ته یې د اسلام دسپېڅلي دین شغلې ورسولې. لکه څنګه چې د دې ټاپو د مسافرو عربو له مخه لا له اسلام سره مینه وه؛ نو ډېر په شوق یې دتوحید کلمه وویله اودتوحید استازي ته یې ډېرتود هرکلی وواېه. دوخت په تېرېدا سره دې خلکوعربوته دحج اوجهاد لپاره اوږده اوله ستونزو ډک خطرناک سمندري سفرونه کول.

ابوالحسن هم ددې ټاپوهستوګن شو، اوالله(ج)یو زوی خالد اویوه لورچې ناهیده نومېده ورکړل.

کله چې ده وروستی ځل دحج اوجهاد په سفر له خپلوملګروسره دعربوصحراته دتلوتکل وکړ، نوخالد چې ۱۴کلن وو اوله جهاد سره یې بې کچې مینه وه له پلاره یې غوښتنه وکړه، چې دی هم جهاد ته ورسره بوځي؛ خوپلارېې دده د مورد ناروغۍ له لاسه پرېښود اوخپله په سفرروان شو، چې نه بیرته دی راستون شو اونه بیا ددې مسافروخه درک معلوم شو!

ډېرعرب دلته یا په جهاد کې شهیدان یاپه سمندري سفرونوکې غرق شول. اویاخودسند دظالم حکومت له خوا بندیان شول، چې له دې جملې څخه ابوالحسن هم و.

دې بې سرپرسته عربوغوښتل چې خپل هېواد ته لاړشي اودعربو دبرم اوعروج منارونه په خپلوسترګو ووینې؛ دوخت خلیفه ولیدبن عبدالملک اوحجاج ابن یوسف هم غوښتل چې دامسافر عرب خپل وطن ته راستانه شي، چې اولادونه یې له اسلامي زده کړو اودجهاد له سپېڅلي نعمت څخه برخمن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبيرېي ورولېره چې دا مسافرعرب خپل هېواد ته راولي. زبير چې تکړه ځوان، مجاهد اوزړور کښتۍ وان و دسرانديب ټاپوته ورسېد. هلته مېشتوعربوورته تود هرکلی ووايه. څو ورځې وروسته دسرانديب پر ساحل څوکښتۍ ولاړې وې خالد، ناهيده اونورعرب له خپل ټاټوبي څخه د خپل اصلي وطن پر لورستنېدل. دسرانديب پاچاورسره په خورا درناوي مخه ښه کوله او د بصرې حاکم حجاج ابن يوسف ته يې ځينې سوغاتونه هم لېږل.

له څوورځومزله وروسته کښتيو ددمې لپاره ددېبل پر ساحل لنګرواچاو، چې په دې وخت کې ددېبل دظالم اومکاروالي پرتاب رای له خواپرې حمله وشوه. عربو ځوانانو مقاومت وکړ؛ خوپه پای کې ټول بنديان شول يوازې خالد اوناهيد ددښمن له منګولوڅخه بچ پاتې شول اوپه يوه ګوښه ځای کې يې پنا واخيسته. لټون يې دوام درلود.

دعربوکونډو اويتيمانوپه زندان کې ترخې شپې تېرولې اوناهيد يې په غم ډېره غمجنه وه. چې بالاخره يې هغه فرياد اوچت کړ، چې په ځواب يې دسند دمغرورپاچا تاج اوتخت هم د قيصراوکسراغوندې دعربو دسارايانو په پښوکې ولوېد. ناهيد چې ټيي هم وه خپل غيرتي قوم ته يې په خپلو وينو پر يوسپين دسمال باندې د خپل زړه درد اوداسيرانوحال انځورکړ.داليک يې زبيرته چې د قدرت معجزې له زندان څخه راخلاص کړی و ورکړ. چې حجاج ابن يوسف ته يې ورسوي. دليک مضمون داسې و:

زماباوردی چې دبصرې والي به داستازې له خولې د مسلمانو ماشومانو او تورسريو حال اورېدلی وي، خپل زړور پوځ ته به يې پراسونو دزين ايښودلو امرکړی وي؛ خوکه دحجاج بن يوسف وينې سړې شوې وي، ښايي زماداليک هم بې اغېزې اوبې ګټې وي. زه دابوالحسن لوريم. زه او وروړمې تراوسه ددښمن له منګولو خوندي يو؛ خو زمونږنورملګري دداسې دښمن په زندان کې دي، چې په زړه کې يې درحم اوکرم ځای نشته. دزندان داسې تياره کوټې په ذهن کې راولئ چې دزندانيانوغوږونه داسلام دلښکرو داسونو د پښو غږ اورېدو ته انتظار وي. دايوه معجزه وه چې زه او ورور مې د دښمن له منګولو ژغورل شوي يو؛ خو زمونږ لټون دوام لري اوښايي موږهم يوې تيارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونې ته ولېږدوي. داهم امکان لري، چې ترزندان دمخه زما زخم ماد مرګ په خوب ویده کړي. اود دردناک انجام نه وژغورل شم خو په زنکدن کې به زما دا ارمان په زړه پاتې شي چې هغه توند اسونه چې سپاره یې دافریقا اوترکستان پردروازو ولاړدي، دخپل قوم دمظلومو لوڼو اویتیمانو مرستې ته را ونه رسېدل.

ایا دامکنه ده چې هغه تورې چې، دروم اوایران دمغرورو شاهانو پرسر دتندر په څېر راکوزې شوې، دسند دمغرور راجه پر وړاندې پڅې شي. زه له مرګه نه وېرېږم؛ خواې حجاجه! که ته ژوندی وې، دخپل قوم دیتیمانواوکونډو مرستې ته راودانګه!

(ناهید دیوه غیرتي قوم بې وسه لور)

دا دهغې تور سرې اواز و، چې د سند نقشه یې بدله کړه. دا هغه فریاد و، چې دهندوستان تاریخ یې واړاوو. زبیر له دې پیغام سره د عربو دسارا پر لور وخوځید. کله چې بصرې ته ورسېد، په داسې حال کې د حجاج ابن یوسف دربار ته حاضر شو، چې په دربار کې د حجاج ولس کلن وراره او د قتیبه بن مسلم غوره پوځي سالار محمد بن قاسم هم و. حجاج بن یوسف چې اوسپنیزو متو یې دوست او دښمن دواړه وېرول، اوس هغه پخوانی حجاج نه وه، چې کعبه یې په کاڼو وویشتله او سپېڅلي مسلمانان یې په شهادت ورسول. بلکې اوس  د اسلامي نړۍ د جهادي فتوحاتو رهبر و او ټولې جهادي چارې د ده په لاس کې وې. زبیر دسند حالات ورته بیان کړل. د حجاج بن یوسف په څېره کې پخوانی هیبت راخپور شو. له غوسې یې ګوتې ومروړلې او شونډې یې وچیچلې. د زخمي زمري د کریږې په څېر اواز یې له خولې اوچت شو: د سند راجه دا جرئت ! وزې هم اوس زمریانو ته ښکر ور ښکاروي!

زبیر دسمال حجاج بن یوسف ته ورکړ. حجاج په وینو لیکلی لیک چې څوکرښې ولوست، ورېږدېده. په سترګو کې یې لمبې په اوښکو بدلې شوې. دسمال یې محمدبن قاسم ته ورکړ، هغه تر پایه لیک ولوست او پوښتنه یې ترې وکړه: ستاسو فیصله څه ده؟ حجاج بن یوسف خنجر راوویست، څوکه یې د سند په نقشه ور ښخه کړه او ویې ویل زه د سند پرخلاف د جهاد اعلان کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حجاج ابن يوسف زبير او محمد بن قاسم د خلافت دربار د مشق ته ولېږل. چې خليفه وليد بن عبدالملک هم د جهاد اعلان وکړي. کله چې زبير او محمد بن قاسم د خليفه دربار ته حاضر شول. په وينو ليکل شوی خط يې خليفه ته وړاندي کړ. د حجاج په څېر وليد هم د ليک په لوستلو زيات خفه شو. د درباريانو لپاره يې دوهم ځل په لوړ غږ د لوستلو هڅه وکړه؛ خو د څو فقرو له لوستلو وروسته يې غږ خپ شو او ليک يې محمد بن قاسم ته ورکړ. وروسته يې د مجلس له حاضرينو سره مشوره وکړه، چې دجهاد اعلان وکړي. په پای کې د ټولو رايه دا وه، چې بايد د سند مغرور راجه ته سمه لار وښيي. خليفه دا ذمه واري محمد بن قاسم ته وسپارله چې خلک جهاد ته تيار کړي. محمد بن قاسم په دمشق کې زرګونه ځوانان په خپلو جذباتې ويناوو او د ناهيدې په و ينو ليکلي ليک باندې د جهاد لپاره چمتو کړل. سره له دې چې مسلمانان په افريقا او ترکستان کې په جهاد بوخت و او ددريم محاذ دخلاصېدو امکان نه ليدل کېده؛ خو د قوم دمظلومو تورسريو اوماشومانو فرياد دويده قوم لپاره داسرافيل شپيلۍ شوه. په يوه غږ يې دناهيدې فريادته لبيک ووايه او له دې مظلوم فرياد سره هغه تورې وځلېدلې، چې ددې ځوانانو پلرونو داسلام دعظمت تاريخونه پرې ليکلي و. کله چې پوځ تيارشو، يو سهار ددمشق خلکو له بامونو اوبازارونو څخه دمحمدبن قاسم دپوځ دجلوس ننداره کوله. ددنيا په تاريخ کې دالومړۍ پېښه وه، چې يوې ليرې سيمې ته دپوځ قومانده ديو ولس کلن زلمي پر غاړه وه.

محمد بن قاسم چې کله بصرې ته ورسېد، نوخپل کورته دمور دپوښتنې اواجازې لپاره ولاړ. دمور کوټې ته ورننوت او دسپاهي په جامه کې ورته ودرېد. له سره يې جنګي خولۍ ليرې کړه، موريې ورته وويل: زويه خولۍ دې بيرته پر سرکړه: زه مې خپل مجاهد زوی په پوځي لباس کې ګورم. محمدبن قاسم له موره اجازه وغوښته. موريې دعاورته وکړه: چې ترڅو په اسمان کې ستوري اوسپوږمۍ ځلېږي اولمرهره ورځ دنياته دورځې دراتلو زېری ورکوي پر دنيا دې ستانوم روښانه وي. د قيامت پر ورځ دې داسلام اومجاهدينو د ميندو په صف کې زما غاړه ټيټه نه وي! محمدبن قاسم له موره رارخصت شو. په بصره کې نورپوځ هم ورسره يو ځای شو. دمحمدبن قاسم دولس زره کسيز پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسیلۍ په څېر توند دسند دښتوته ورسېد، اودسند پر اسمان دبرسات دوربځو په څېر را خپور شو. دسند راجه دده مخ ته شل زره پوځ راولېږه،

چې دمحمد بن قاسم پوځ دسمندر دڅوي څپې په څېر دخس اوخاشاک غوندې ورسره واخیست. دسند مغرور لښکر ته یې پرلپسې ماتې ورکړې. داسلام لښکر به په ډېر کم تعداد دکفارو دلښکرو په مقابل کې په مېړانه جنګېده، چې بالاخره هغه هدف ته ورسېد، چې ددوی په زړونو کې یې دردونه اواحساسات پیداکړي ول. هغه مظلوم بندیان چې دسند راجه دتورو تمبو شاته اچولي و، اوس دخپل غیرتي قوم په څنګ ولاړ و اودشکرانې اوښکې یې دګریوان پر لوري بدرګه کولې. هغه ناهیده چې پرون یې په خپلو وینو خپل غیرتي قوم ته فریاد لیکه، اوس دهغه قوم په څنګ کې ولاړه وه، چې دروم اوایران په څېر یې پر سند باندې هم دخپل عظمت بیرغونه ورپول. هغو اسونو چې دافریقاګېډه یې څیرې کړې وه او د مغولستان په دښتوکې یې دفتحو مزلونه لنډول، دسند دمغرور راجه سلطنت هم تریښولاندې کړ. داسلام هغه سپاهیان چې داندلس اوپرتګال پر دروازو ولاړ ول، اوهغه شازلمیان چې دچین دروازې یې ټکولې اوس یې دسند پر پراخه سینه هم دا سلام بیرغ ټینګ کړی و. د اسلام هغه غیرتي زامن، چې دخپلوخویندو اولونړو دعزت اوعظمت دساتلو لپاره پیداشوي ول، نن یې خپلې خویندې دکفارو اوظالمانو له پنجو ازادې کړې وې. دسند مغرور راجه ته یې ثابته کړه چې مسلمانان دځمکې پر سر د خپلو خویندو بې عزتي نشي زغملی اودژوند ټولې رنګینۍ دخپلو خویندو اولونړو ترعزت قربانوي. دا د ناهیدې دهیبتي فریاد پایله وه، چې سند داسلام په قلمرو کې داخل شو. په لکونو کړېدلی ولس دخپلو ظالمانو پادشاهانو له ظلم څخه خلاص اودتوحیدغېږې ته یې پنا یوړه. دناهیدې غږو، چې زرګونو ځوانانوخپلې خیالي ځوانۍ ددوی دعزت دساتلو لپاره قربان کړې. سند چې ظالمان پرې حاکمان و، اوس وربانديې انسانیت حاکم شوی وو. هرچاچې دجګړې په وخت کې مسلمانان ډېر لوی دښمنان بلل، اوس یې ترهر چا زیات خواخوږي اودوستان ګڼل. ددوی دسینو ټپونه اوس دتوحید په کلمه سره رغېدل.

دبشریت په بڼ کې دعدل، مساوات اوبرابرۍګلونه غوړېدل. کله چې محمدبن قاسم (هغه ستر غازي چې د ژوند په پړاوونو کې یې دماتې نوم نه پېژانده) دسند له فتحې څخه خلاص شو؛ نوهندوستان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې دتلو تکل وکړ؛ خو له بده مرغه دوخت خليفه وليدبن عبدالملک وفات شو اوسليمان بن عبدالملک دخلافت پرګدۍ کېناست. حجاج بن يوسف هم اوس ژوندی نه و. سليمان چې مخکې له ده سره مخالفت درلود، نودده انتقام يې له محمدبن قاسم څخه واخيست. ده محمدبن قاسم ته د يزيد بن ابي کبشه په لاس ليک لېږلی و، چې داميرالمومنين سليمان بن عبدالملک امر دی. چې دپوځ مشري يزيد بن ابي کبشه ته وسپاري اوته دده په اطاعت زولنې په لاس دخلافت دربارته حاضرشې. يزيدبن ابي کبشه چې کله سندته ورسېد، له سپاهيانو يې وغوښتل چې له محمدبن قاسم سره وګوري، اودخليفه ضروري پيغام ورته واوروي. کله چې دی دمحمدبن قاسم دخوب خونې ته ورننوت،ګوري چې داد غيرت شجاعت اومعصوميت مجسمه دخوب په نړۍ کې ده او پر شونډو يې فاتحانه اوماشومانه معصومه موسکا خپره ده. يزيد چې ورته ځير شو، نوپه سترګوکې يې اوښکې راغلې: زه څنګه داسې لوی انسان دخليفه دربار ته ولېږم! بيرته له کوټې راووت. سهار چې کله ورغی ليک يې ورښکاره کړ. هغه ډېر بې پروا وويل، چې دخليفه امردی، زه په لاسو کې زولنواچولوته تيارېم. يزيد ورته کړه: هېڅکله نه! ته به دخليفه دربارته نه ځې! ځکه دهغه په څنګ کې خاينان دي اوتاته يې ارادې ښې نه دي. ده ټينګارکاوه، چې خامخابه دخليفه امرمني. کله چې دی دخليفه له سپاهيانو سره روانېده، نو د سند دلښکر قومندان را وړاندې شو، چې د تلو سبب وپوښتي چې پوه شو محمد بن قاسم ته يې وويل: ته مه ځه ته د سند خلکو ته امر وکړه! د دمشق د خلافت د دربار لوټې به سند ته درته راوړي. مونږ ستا ملاتړي يو. د ه ورته وويل: زه هېڅکله داسې نه شم کولای چې مسلمانان په خپل منځ کې سر ه ټکر شي. کله چې د سند خلک خبر شول، ټول لارو کوڅو ته راووتل، په چغو چغو يې ژړل. د ځوانانو، ، سپين ږيرو، نجونو او ښځو قطارونه ورته ولاړ وو، او ده ورسره مخه ښه کوله. د ټولو په سترګو کې اوښکې وې او داسې احساس يې کاوه لکه د هر چا ډېر نږدې خپلوان چې جدا کېږي. محمد بن قاسم د مشق ته ورسېد، او د خليفه په امر د صالح په لاس په واسط ښار کې اعدام شو. دا دغيرت او شجاعت لمر ولوېد. (زمونږ مطلب محمد بن قاسم او ناهيده و چې محمدبن قاسم په ناهيد باندې غيرت وکړ).

اوس وا معتصما!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وا معتصما !

دعباسي خليفه معتصم بالله په وخت کې رومیانو پر یوه سرحد باندې حمله وکړه. د عموریه کلا یې چې ونیوله؛ نو کفارو یوه مسلمانه تورسرې له ځان سره بوتله. او د خپل وحشیانه کردار له مخې یې دې مظلومې ته تعذیب او ډول= ډول تکلیفونه ورکړل؛ نو مسلمانه مېرمن مجبوره شوه، چې خپل غیرتي قوم ته فریاد وکړي، څو هغه لاسونه غوڅ کړي، چې د دې د حیا. او عفت لمن یې شکولې ده. کله چې یوه وحشي کافر دې مظلومې ته پر مخ څپېړه ورکړه، نو ددې له خولې نه بې اختیاره هغه تاریخي او زړه لړزونکې چیغه ووته، چې زرګونه ځوانان یې د غفلت له خوبه راپاڅول. او تر ننه یې ددې په څېر مظلومې او معصومې نجونې خپلو غیرتي وروڼو ته وهي. ددې تور سرې له خولې د وا معتصما ! چیغه ووته او ویې ویل چې اې معتصمه ته چیرې یې ستا پر بې وسه خور څه روان دي! کافر په خندا او تمسخر ورته وایې، چې اوهو معتصم چېرې دی! هغه به اوس په برګ آس سپور ستا مرستې ته راورسېږي هغه له دې ځایه په سلګونو میلونو لرې دی ستا فریاد نه اوري. دا فریاد او خبرې یوه مسلمان واورېدې او د دیني جذبې له لورې سمدلاسه د معتصم دربار ته راغی او د بغداد زړور بچي ته یې د دې مظلومې تور سرې فریاد ورساوه.

معتصم باالله چې د عربي مور شیدې رودلي وې اود یو غیرتي پلار وینه یې په رګونو کې چلېده ډېر په غیرت په جوش او جذبه یې د خپلې مسلمانې خور فریاد ته لبیک ووایه او قسم یې وکړ چې دا مظلومه به د دې وحشي کفارو له پنجو آزادوي.

خپل غیرتي پوځ ته یې د تیارسۍ امر وکړ. دده له امر سره یو ځل بیا هغه تورې وپړکېدې چې پخوا یې هم د ظلم زنځیرونه شلولي وو. له شعارونو او جذباتو سره هغه تورې هم له تېکو راووتې چې د مسلمانانو د برم او عروج داستانونه پرې لیکلی وو.

هغه ګړندي آسونه میدان ته راووتل چې د عربو له صحرا به د تونديې سیلۍ په څېر راښکاره او په ګردونو کې به ورک شول. بیا به یا د سند په دروازه ولاړ ول یا به یې د چین دروازې ټکولې او یا به یې د افریقې دښتې وهلې. د بغداد لمر او د دجلې سیند د اتلس زره سرښندونکو ځوانانو د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلوس لیده، چې د غیرت او عزت د آزادۍ په تکل یې ځمکه او آسمان په تکبیرونو لړزاوه. د دې سپېڅلې ځمکې مخ بیا د هغو آسونو پښې ښکلولې، چې د عصمت او عزت د ساتلو په تکل یې مزلونه لنډول. د برښنا په څېر ګړندي آسونه د عموریه کلا پر درشل و درېدل او ډېر ژر یې د عموریه کلا د ظلم زنځیرونه مات کړل. او د بري بیرغونه یې پرې ورپول .

معتصم د کلا په درشل کې پر برګ آس سپور د آزادۍ له زېري سره خپلې مظلومې خور ته ولاړ و او دا مظلومه خور یې هغه ځای ته راوستله چې کافر په څپېړه وهلې وه. وروسته معتصم ورته وویل چې ایا معتصم ستا فریاد ته لبیک ووایه او که نه؟ آیا ستا مرستې ته راورسېد او که نه؟ هغې د شکرانې او ښکې دګریوان په لوري بدرګه کولې او په ګرمو اوښکو یې له معتصم څخه مننه کوله. معتصم هغه کافر راوست، چې دا مسلمانه یې ځوروله. او له خپل ټول مال سره یې ددې ښځې غلام وګرځاوه.

ورته یې وویل چې مورړ دخپلو خویندو فریاد ته داسې لبیک وایو! کافرته هغه وخت پته ولګېده چې دهغه معتصم په مخ کې ولاړو چې دوا معتصما! چیغې له لسګونو میلونو لیرې دلته دبرېښناپه څېر رارسولی و. اوس یې پر دې سر خلاص شوی و چې دا هغه قوم دی، چې دیوې غریبې او مظلومې ښځې لپاره خپل سرونه شیندي اودهغوی دعزت دساتلو لپاره سترې پاچاهۍ ترپښو لاندې کوي. دیوې ښځې فریاد دوی دومره په جوش اوجذبه کې راولي چې هریو تر بل مرګ ته ورمخکې کېږي اومرګ ته خاندي. په رښتیا داهغه قوم دی چې خپلو ښځو اولوڼو ته یې داسې عزت اوازادي ورکړې ده چې، یوه قانون هم نده ورکړې. خپلې ښځې یې دنړۍ په ښځوکې سرلوړې کړې اودا فریاد چې دې مسلمانې خور معتصم ته کړی دی ترننه دهغو خویندو پر خوله جاري دی چې دکفر اوجبر په منګولو کې زنداني دي. هغوی دوا معتصما ! او وامحمدا! نارې وهي اودوخت معتصم بالله او محمدبن قاسم ته خپل مظلومیت دوا معتصما! او وامحمدا! په کلمه کې بیانوي چې د وخت هریو ځوان ته خطاب دی. اوس راځو دهغو خویندو حال ته چې په نننی دور کې ورسره هغسې ظلمونه کېږي اود وا معتصما! چیغې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ابو غریب له زندانه د وا معتصما ! چیغې او فریادونه

ابو غریب زندان د عراق د بغداد په ښار کې دی. او د نړۍ له بدنامو زندانونو څخه شمېرل کېږي. غواړم د عراق او بغداد د دردونکو پېښو ژوندي تصویرونه ستاسو مخ ته وړاندې کړم. بغداد د عراق پلازمېنه هغه تاریخي ښار دی، چې د عباسي خلافت په دوران کې یې ښکلا ساری نه درلود. هغه ښار چې د اسلام غازیان به ترې د نړۍ د فتحې او تسخیر لپاره راپورته شول نو بیا به یې په مقابل کې هر لښکر ماتې خوړله او د دوی تورو به هره توره ماتوله، ځمکې به لار ورکوله. هغه ښار چې او سيدونکي یې شهزادګان و او دعزت او غیرت داستانونه یې مشهور ول. عراق هغه عراق چې امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله تعالی علیه غوندې شخصیتونه یې نړۍ ته وړاندې کړي دي. هغه عراق چې محمد بن قاسم غوندي سپاهیان یې درلودل. هغه عراق چې هارون الرشید غوندې واکمنان یې زېږول. هغه عراق چې معتصم باالله غوندې غیرتي او قهرمانو ځوانانو یې غېږه ښایسته کړې وه. هغه عراق چې امت ته یې زرګونه علماء وړاندې کړي دي. او له غېږې یې علوم خپاره شوي دي. هغه عراق چې کتابتونونه به یې د علم له کتابونو څخه ډک ول. هغه عراق چې د تاریخ په پاڼو کې یې عظمت په زرینو کرښو لیکلی دی. او بالاخره هغه ښار چې بچیانو او لوڼو یې د آزادۍ په فضا کې ژوند کاوه. هو! همدا عراق درته یادوم. په اسلامي نړۍ د غربي کفري استعمار تورې وریځې د عثماني خلافت له پرزېدو وروسته راخپرې شوې، نه یوازې عراق بلکې د دې اور د لمبو تودوخه ډېرو اسلامي هېوادونو احساس کړه، چې زموږ ګران هېواد هم څو ځله مغرورو نړیوالو ته د عبرت درسونه ورکړل. عراق درته یادوم! هغه عراق چې په ۱۳۸۳هـ ش کال پرې د غربي مستکبرینو له خوا د ناټو په مشرۍ د امریکا متحده آیالاتو ناروا پوځي یرغل وکړ او یو ځل بیا یې په بغداد کې د چنګېز او هلاکو تاریخ را ژوندی کړ رنګینې مدرسې او ښکلي کتابتونونه یې له خاورو سره برابر کړل. هغه شان او شوکت او اسلامي پت او عزت یې تر پښو لاندې کړ. آن تردې چې پر ماشومانو یې کلسټر او کېمیاوي بمونه استعمال کړل. علما یې شهیدان کړل. زرګونه بې ګناه مسلمانان یې د زندان د تورو تمبو شاته وغورځول. په دې یې هم بسنه ونه کړه، د دې خنزیرانو د وحشت او بربریت لاسونه د هغو عفیفو او پاک لمنو پېغلو ابرو او عصمت ته هم ورسېدل چې تر اوسه یې مخونه لمر نه وو لیدلي. د دې وحشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**او استکبار خپو ډېر مظلوم مسلمانان او ډېرې مظلومې تورسرې نړیوال بدنام زندان ابو غریب ته ورټېل وهل. او هلته بیا خدای خبر څه ظلمونه او نادودې پرې وشوې.**

**زه غواړم د څو هغو خویندو فریاد ستاسو غوږونو ته ورسوم چې د ابو غریب له زندانه د وا معتصما ! چیغې وهي. د نړۍ غافلو ځوانانو ته د غیرت بلنه ورکوي او هغوی له خپله حاله خبروي.**

**النوره پاک لمنه پېغله څوتنو وحشي امریکایانو له مټونیولې ده او په ډېر وحشت سره یې زندان ته کشوي. دا په چیغو- چیغو دنړۍ غیرتي مسلمانانو ته فریاد کوي؛ چې ماله دې ظلم څخه وژغورئ! ماله دې ظالمانو او خنزیرانو څخه خلاصه کړئ! خپلو غیرتي وروڼو ته خطاب کوي، چې اې زمونږ د ابرو او عصمت ساتونکیو! تاسو چېرته یاست؟ په مونږ باندې څه حال ده؟ تنها النوره نه بلکې په لسګونو او سلګونو پاک لمنې پېغلې د وا معتصما ! چیغې وهي او دنړۍ ځوانانو ته د غیرت خطاب کوي. خپلو غیرتي وروڼو ته وایې چې آیا ستاسو په منځ کې کو م معتصم او محمد بن قاسم نشته؟ ستاسو غیرت او شهامت څه شو؟؟؟**

**هغه غیرتي مسمانان څه شو ل چې په خپلو تورو به یې د داسې سرکشه او مغرورو کفارو سرونه پرېکول؟ هغه مسلمانان څه شول چې د سیلۍ په څېر به یې د کفر ځواکونه ورسره واخیستل؟ نن ولې د دې پراخ جهان په کوم کونج کې معتصم او محمدبن قاسم نشته؟ نن ولې هغه د خپلو خویندو د حیا او ابرو ساتونکي نشته؟ نن ولې مسلمانان د هغه پیغمبر پر پله نه ځي چې د یوې مسلمانې مېرمنې د بې عزتي لپاره یې یهودیان د ابد لپاره له مدینې وشړل؟ نن ولې په مسلمه امت کې د خالد په څېر ځوانان نشته؟ نن ولې هغه ځوانان نشته چې د اسلام د بقا لپاره به پر میدان د شهادت په تکل جنګېدل؟ هغه زلمیان څه شول چې نړۍ ته یې ښایستونه راوړل. او له نړۍ څخه یې د بدرنګیو ټغر ټول کړ؟ هغه ځوانان چې مسلمانې ښځې یې د نړۍ په ټولو ښځو کې سرلوړې او عزتمنې کړې، ولې نن زمونږ پاکو لمنو ته د وحشیانو لاسونه را غځېدلي دي خو هیڅوک مو فریاد نه اوري. د ابوغریب له زندانه هغه په وینو رنګ لیکونه چې دې خویندو د خپل مظلومیت داستانونه پرې لیکلي دي ستاسو مخ ته وړاندې کوم. اول د النوري خور بیا د فاطمې ، عافیه صدیقې او همدارنګه د افغانستان بعضې واقعات**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو مخ ته وړاندي کوم. د ابوغريب له زندان څخه د النورې خور د تن په وينو سور ليک دی، چې په دې وروستيو کې په البصره ويب پاڼه کې خپور شوی ده. دغه مسلمانه خور له يوې مودې راهيسي په ابوغريب زندان کې د بند شپې سبا کوي او هلته د امريکا د وحشي تمدن د وحشتونو او اذيتونو ښکار ګرځېدلې ده. دا د خپل ژړونکي ليک پيل د الله جل جلاله په سپېڅلي نوم سره کوي او بيا ليکي:

بسم الله الرحمن الرحيم

د فلوجه، خلاديه، او د رمادي د خلکو په نامه چې زما هېوادوال اوهم ژبي دي، اودنړۍ دهغوخلکو په نامه چې زما مسلمان ورونه دي او له موږ سره يې دغم اوهمدردۍ له احساس څخه لاسونه وينځلي اوموږ يې له ياده اېستلي او هېرې کړې يو!

دابو غريب له زندان څخه ستاسو يوې بې ګناخور دخپلوګوتو په سرو بندونو کې قلم نيولی اوتاسو ته ليکي:

خودا دغم اوستم داستان له کومه پيل کړم، هغه ظلمونه څنګه بيان کړم چې دتقوا اوعفت پېغلې يې دلته زغمي؟! زمونږ دعفت لمنې دلته داغل شوې دي، له سره مو دحيا پړوني غورځول شوي دي؟؟

هغه ظلمونه چې پرمونږ هروخت تېرېږي اوکېږي په قلم يې دبيانولو وس له ماسره نشته. امريکايې درنده ګانو پرمونږ داسې نادودې اوظلمونه وکړل، چې له امله يې دانسان جسم نه بلکې روح هم پولۍ پولۍ کېږي. دهغوی هوس اوشيطانت پرموږ بې وزلو اوکمزورو داسې منګولې خښې کړې، چې په موږ کې ورڅخه دسرغړونې او احتجاج ساه نده پاتې. زموږ عفت اوعصمت تروړل شوی، اوس يوازې په پټو سترګو دمرګ انتظارباسو! ولې دژوند لپاره مو څه پاتې ندي!!!

دازادۍ په چاپيريال کې ساکښو!

ستاسوګېډې له هرډول نعمتونو څخه ډکې دي او موږ دزياتې لوږې څخه بې سده اوپه ځان پوی نه يو. تاسوخپلې تندې په يخو مشروباتو وژنئ، موږته کله يوګيلاس اوبه هم نه رسيږي! تاسو په نرمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپستو پالنگونو خوبونه کوئ، موږ شپې په اغزیو تېروو اود درنده گانو غوسې اوکنځلې زغمو! تاسو دخوشحالیو په زانگو کې زانګئ، زموږ تن سترګې- سترګې شو اوپه خپله بربادۍ ژاړي. ای داسلامي نړۍ واکمنو! ایا تاسو دالله تعالی اونبوي فرمانونه اولارښوونې له یاده اېستلې؟ ددین اوملت له رویه خو تاسو زموږ دابرو اوعزت ساتونکي یئ؟ خودا خبره چې تاسو دامریکا لپاره لاسونه اوبازو جوړشوي یئ او موږ حیران یو چې ولې مو دخو ډالرو په بدل دخپل غیرت اوهمت دپلورلو سودا کړې ده؟ امریکایي وحشي درنده گانو زموږد حیا اوعصمت لوپټې څیرې- څیرې کړې اوپه هوایې یوړلې! په دې لاره کې تاسو اوهغوی دیوې لارې لارویان یئ؛ نوله هغوی څخه څه گیله! زما ورونو چېرې یئ!

تاسو زموږ سترگې دمحمدبن قاسم دراتلو لارې ته په کتو- کتو سترې کړې. موږدهوس په تېره چاړه حلالېږو؛ خوپه ړنگو ساحلونو دمحمدبن قاسم دراتلو غږ نه خپرېږي. تاریخ گواه دی چې دعراق په یوه ښارکې دکفارو دحملې پروخت دیوې مسلمانې مېرمنې دبې ابرو کولو هڅه وشوه. دهغې فریاد دبغداد پرتخت ناست معتصم باالله ترغوږ ورسېد هغه لبیک ورته وواېه او دیوه لښکر په بدرگه یې ځان دهغې مېرمنې مرستې ته ورساوه؛ خو نن ددې پراخې اسلامي نړۍ په څنډه کې داسې څوک نشته چې زمونږچیغو او کوکارو ته لبیک وواېي؟ هیڅوک نشته ؟!

ایا هره ورځ دادغرونو په څېر سخت اذیتونه اوپه تېو تورو شپو کې زمونږ دبې وسۍ فریادونه اوساندې یو چاهم نه دي اورېدلې ؟

دخدای لپاره زمونږ خبرواخلئ؟ زموږ له پښو څخه د غلامې زولنې پرانیزئ. موږد ابو غریب دزندان له لوړو دیوالونو سره سرونه وهو، په وینو کې لتې پتې یو. موږ ته له دې حالته نجات راکړئ! زه تاسو ته دهمدغه خدای (ج)په خاطر چې دهغه نیول ډېر سخت دي، هرچاته چې زما دا اواز اوپیغام ورسېږي هغوی دې نورو ته ددې رسول فرض وگڼي او له دې ظلمونو څخه دې ټوله نړۍ خبره کړي. زه په کلکه غوښتنه کوم، که تاسو نور هېڅ نشئ کولای خودومره خوکولای شئ، چې دابو غریب زندان دبندیانو اودامریکایانو په شمول ورک اولیرې کړئ، چې څوک بیا مونږ دمسلمانانو لوڼو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ته دکفارو داولادو میندي ونه وایې. مونږ ددې پرځای چې ستاسو اودخپل دین اسلام پر سپېڅلې لمن داغ وګرځو، مرګ غواړو اودخدای لپاره ومو وژنۍ!!!**

**(ستاسو مظلومه او بندیوانه خور النوره)**

مسلمانانو وروڼو! داهغه دردونکی او ژړونکی لیک دی چې موږ اوتاسو یې تنها توري او الفاظ ولوستل. څوک به پرې خفه شوي وي اوچابه ژړلي وي؛ خو خفګان اود حسرت اوښکې به النورې خور ته څه ګټه ورسوي خو چې ددې اوښکو له احساساتي کاروان سره عمل ملګری نشي؟ هغه ترخه اودپردو تر شا پټ حقایق به څومره سخت وي، چې پر دې مظلومو باندې تېرېږي! آیا تاسو دازغملی شئ چې دالنورې خور نازک اومعصوم وجود دې د شراب خوړونکو مستو او وحشي درنده ګانو دمستۍ اوشهوت اله وي! دابوغریب په زندان کې دداسې ظلمونو زغمل چې دیو نارینه له وسه وتلې خبره وی، نو دداسې کم وسو مېرمنو به څه حال وي؟ داسې فکر وکړئ چې دا داسې ګلاب دی چې مخکې یې مخ لمر هم نه و لیدلی؛ خواوس د درنده ګانو په لاس کې مروړل شوی اوپاڼې پاڼې شوی دی.

هغوی دوحشیانو غوسې کنځلې اوهر ډول تېری زغمي. دادمسلمان لپاره څومره دبې همتۍ خبره ده. چې ستا په خپله خاوره کې کافران ستا سو له خویندو سره داسې اعمال ترسره کوي اوموږ دې دغفلت په خمارکې ډوب یو ؟!

مسلمانانو!تاسو په انټرنټ کې هغه دظلم اووحشت تصویرونه کتلی شئ، چې موږیې په ویلو شرمېږو. له دې جهنمي زندانه چې اوس دامریکایي سپیو دفحشاء مرکزګرځېدلی دی اودا دفحشاء بازاریې زمونږ او ستاسو په پتمنو او عفیفو مسلمانو خویندو باندې ګرم کړی دی. دباندی انسانانو ته چیغې وهي؛ خودخپلې بې وسي اومظلومیت چیغې یې دابو غریب دزندان له دیوالونو سره تر ټکر وروسته بیرته راغبرګیږي ددوی چیغې ددې وحشیانو پر زړونو هېڅ اثر نه کوي، بلکې ددې چیغو اوساندو په څواب کې یې بې شرمانه او کړسندې خنداګانې اوریدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی مسلمانانو ته وایې، دخدای په خاطر، که نور څه مو په وس کې نه وي، موږ ووژنئ خو زندان له خاورو سره خاورې کړئ چې پکې هغه کیسې هم خاورې شي، چې بهر انسانیت ترې شرمېږي. امریکایان دومره دانسانیت له پولو واوښتل چې له هېڅ ډول وحشت څخه یې مخ وانه اړاوه او دحق په مقابل کې غربي استبداد اوکفري استکبار داسې په غرور سراوچت کړی دی چې ددنیا په هېڅ ځواک یې سترګې نه ډکېږي؛ خو زموږ په زنګ وهلیو اسلحو کې اوس هم لا څو داجل مرمۍ پاتې دي. زموږ په متو کې اوس هم قوت شته. زموږ سینې لا اوس هم دایمان په نور روښانه دي. دلته اوس هم لا څود غزنوي او ابدالي بچېان ژوند کوی. دبازانو په دی ځاله کې تر اوسه لا چندروکي نه دي زېږېدلي.

دنړۍ مسلمانانو اوځوانانو! که ددې مظلومې پېغلې دردونکي لیک ستاسو په زګونو کې وینې په غورځنګ نکړي اود قرباني میدان ته راونه وځئ؛ په یاد ولرئ چې دځمکې په مخ زموږ دعزت اوعظمت ورځ ګرځېدلې ده. خو زه مایوس نه یم. زه وایم چې یو غیرتي اوڅپانده قوم دغفلت په خوب ویده دی اوددې ولس یوه غیرتي لور په لوړ غږ وایي، چې اې داسلام غیرتي زامنو! تاسو دځمکې پر سر دهرې لور اومور دعزت او عظمت دساتلو لپاره پیداشوي یاست او نن ستاسې دا حال دی چې پتمنې خویندې اولوڼې مو زنځیرونه په پښو کې دابو غریب، ګوانتنامو اوبګرام په وحشي زندانونو کې دژوند او مرګ تر منځ دردناکې شپې سهار کوي. ددې خویندو فریادونه او لیکونه دهغه چا لپاره ندي چې دلیک په لوستلو یا اورېدلو سره ناڅاپه احساساتي او یا جذباتي شعارونه ووایي. دڅودقیقو لپاره یې وینه په غورځنګ شي او بیا چوپ شي، بلکې ژوندي اولسونه له اوښکو اواحساساتو وړاندې خپلې تورې له تېکو راباسي اوددغه ظلم دانتقام اور په خپلو زړونو کې په اوښکو او جذباتو سره نه، دکفر دککریو په الوزولو سره سړوي.

تاسو په ازاده نړۍ کې په اوښکو او احساساتو دهغو دسترګو دوا نشئ کولای، چې په زرګونه کیلومتره لیرې ستاسو دورتګ لارې څارې اوستاسو دتورو دبرېښنا دلیدو په تمه ناکرارې دي. کاشکې ستاسو له دې اوښکو اوجذباتو سره هغه اسلحې اوتورې هم ځلېدلې وای چې ستاسو پلرونو پرې داسلام د عظمت داستانونه لیکلي دي. کاشکې په امت کې یو ځل بیا محمدبن قاسم او معتصم راپیدا شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**واى، چې ددې خويندو فرياد ته يې لبيک ويلى واى. او دابو غريب اوسپنيز ديوالونه يې لړزولي واى. کاشکې ددې چيغو او فريادونو توري او کرښې چې دکاغذ پرسپين مخ ليک دي ستاسو په زړونو يرغل وکړي اوستاسو جذبات راوپاروي، چې دحق ميدان ته راودانګئ، ددې خويندو دلوټېدونکي عزت اوعصمت پوښتنه وکړئ. او هغو درنده ګانو ته داسې سزا ورکړئ چې په تاريخ کې بيا داسې پېښې تکرار نشي. دخداى په خاطر، کفارو له مسلمانانو سره څه ونکړل؟ دا مسلمانان ولې بې همته شول؟ ولې بې زړه شول؟ ولې د عمربن الخطاب او خالد بن وليد پر قدم نه ځي؟ ولې په دنيا دومره مين شول؟ دا تجاوزاو ظلمونه خو زمونږ او ستاسو پر مسلمانو خويندو باندې کېږي.**

**دمسلمه امت ځوانانو! باور وکړئ ددې قيصو په ليکلو سره زمونږ له زړونو وينې څاڅي. زړونه مو درد کوي! خو مجبور يو چې ددې مظلومو خويندو فريادونه درته انځور کړو. کېداى شي پر وجدان مو اغېزه وکړي. په زړونو کې مو جذبات راوپاروي. دځوانۍ غيرت مو په جوش راشي. زما ورونو تنها النوره خور نه ده، له دې سره نورې ډېرې بدنصيبې دوحشت ښکار شوې دي. ډېرو يې په سويو چيغو او خپو سلګيو دنړۍ له غيرتي ځوانانو مرسته غوښتې ده. ډېرو يې دخپل خالق په دربارکې اوښکې تويې کړې دي؛ خو دا امتحان او درد پر دوى نه دى، بلکې دا امتحان اصلا په ازاده نړۍ کې پر مسلمانانو دى، چې په خوښيو مست دي. هلته که يوه فاطمه النوره خور ځورول کېږي، خو کفارو دصليب بچيانو زمونږ ټولو مسلمانانو ابرو اوعزت ته اخطار راکړى دى. چې ستا له پتمنو لوڼو سره ظلم او تجاوز کوي او بيا ستا غيرت ته دچېلنج او اخطارپه بڼه ستا دهمت دمعلومولو لپاره دهغو جناياتو او ظلمونو عکسونه او ويډيو ګانې هم خپروي. ستا غيرت، ستا ايمان اوستا افغانيت ته چېلنج درکوي اوته ددې مظلومو خويندو سوي فريادونه، عکسونه او ويډيوګانې او هرڅه په خپلو سترګو وينې يايې اورې اويا پرې خبريې؛ خو ته دومره خپلواک نه يې چې ددې ظالمانو په ضد خپل اواز پورته کړې. ددې مظلومو خويندو پوښتنه وکړې. مسلمانه له داسې ژوند ه خو سل ځله تر خاورو لاندې مرګ غوره دى. اخير ستا دا دبې غيرتۍ ژوند دڅه لپاره؟ ته دڅه لپاره پيدا شوى يې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ! ستاسو مخ ته د هغې محجبې پېغلې، دهغه ګل، چې له سره يې دحيا پړونی غورځول شوی دی. دوحشيانو په لاس پاڼې پاڼې شوی دی، د ژوند رنګينې ورڅخه اخيستل شوي دي، ليک خپور کړم،ګوندي داحساس پر رګونو مو اغېزه وکړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دشهيدې فاطمې په وينو سور ليک

**فاطمه خور هم دخپل ژړونکي ليک پيل په بسم الله او د الله (ج) دکتاب په سپېڅلو کلماتو کوي دا تاسو اودا هم د فاطمې خور له درد او حسرته ډک ليک:**

**بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ**

**(قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)**

**د الله جل جلاله له کتاب څخه مې پورتنې سورت ځکه غوره کړ، چې دا سورت زما او ستاسې په نفسونو کې ښه نفوذ لري او د مومنانو په زړونو کې خاص ځای لري .**

**ای د الله (ج) په لار کې مجاهدينو وروڼو! زه تاسې ته څه وايم؟ زه تاسو ته دا وايم چې زمونږ ګېډې د زنا له اولادونو څخه ډکې دي؛ د هغه چا څخه دي، چا چې مونږ غصب کړې يو. خوک چې د خنزيرانو او شاديانو اولادونه دي.**

**او که تاسو ته دا ووايم چې دوی زمونږ بدنونه داغلي، زمونږ په مخونو لاړې تو کوي او قرانکريمونه يې زمونږ په وړاندې شلولي دي الله اکبر!.**

**تاسو زمونږ په حال نه پوهېږی؟ آيا ريښتيا نه پوهېږئ؟ مونږستاسې خويندې يو، الله جل جلاله به زمونږ د حال پوښتنه نن يا سبا درڅخه وکړي.**

**قسم په الله په بنديخانه کې پر مونږ داسې شپه نه تېرېږي، چې يو يا څو خنزيران په يو پاروونکي شهوت سره پر مونږ حمله نکوي! حال دا چې مونږ هغه خوک يو چې پېغلتوب مو پاتې ندی. له الله جل جلاله څخه ووېرېږئ، مونږ ورسره ووژنئ، مونږ ورسره والوزوئ، مونږ همداسې مه پرېږدئ! آيا دا حلال دي چې دوئ مونږ غصب کړې يو او له مونږ څخه ګټه اخلي؟ له الله جل جلاله څخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووېرېږئ، ددوئ ټانګونه او الوتکې پرېږدئ چې بهر وګرځي، تېوله توجه مو د ابوغريب د زندان پر لوري واړوئ.

زه ستاسې مسلمانه خور فاطمه يم! دوی په يوه ورځ کې پر ماباندې له نهه کراتو ډېرې حملې کوې، ايا عقل نه لرئ ؟

داسې فکر اوتصور وکړئ، چې ستاسو يوه خور دا ډول غصب شوې وي هغه به څنګه وي؟ ولې سوچ نه کوئ؟

زه ستاسې خوريم! له ما سره ديارلس نورې ناواده شوې پېغلې شته دي چې د نورو پر مخ کې پر هغوی تجاوز کېږي؛ دوی مونږ له لمانځه څخه منع کړې يو، زمونږ جامې يې وېستلې دي، مونږ ته د جامو د اغوستلو اجازه هم نه راکوي؛ اوس مهال چې تاسې ته زه داليک ليکم يوې پېغلې ځان وژنه وکړه هغه وخت کله چې پر دې يوه عسکر تېری وکړ. هغه يې پر سينه او ورون ووهله، سخت دردونکی عذاب يې ور کړ. هماغه وو، چې هغې خپل سر په ديوال تر هغو وواهه څو چې مړه شوه. سره له دې چې ځان وژنه په اسلام کې حرامه ده خوزه هغه خور معذوره بولم او له الله جل جلاله څخه هيله لرم چې ببنه به ورته وکړي؛ ځکه هغه ارحم الراحمين ذات دی.

اې زما وروڼو! يو ځل بيا درته وايم له الله جل جلاله څخه ووېرېږئ. مونږ ورسره ووژنئ کېدای شي مونږ دا آواز وکړو وا معتصما ! ! وا معتصما ! ! وا معتصما ! !. ليک پای ته ورسېد خو د ليک د ليکوالې او له هغې سره د نورو خويندو سره مرسته پای ته نه ده رسېدلې. وسلام

(ستاسو بې وسه خور فاطمه)

مسلمانو وروڼو! د فاطمې خور دردونکی ليک مو هم ولوست اوس به مو زړه نور هم خفه شوی وي اوس به کېدای شي د عمل تکل درسره پيدا شوی وي؛ ځکه دا د انسانيت پر لمن هغه داغونه دي، چې( په اوښکو نه بلکې په وينو مينځل کېدای شي) دا د سرونو قرباني غواړي دا د ککريو الوزول غواړي، دا د جبر او ستم کوم اور چې په ابو غريب او باګرام کې بل دی، مونږ يې له ليري تودوخي محسوسه کړې ده. هغه داسې چې زمونږ خو خويندې، خو ميندې او څو وروڼه پکې سوځېږي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ له هغو بدنصيبو او حقايقو څخه ناخبره یو، چې په نورو اسلامي ممالکو کې زمونږ معصومې او مظلومې خويندې د وحشت او بربریت په ځنځیرونو تړلې دې. دغه لیکونه د څو مسلمانو خويندو د مظلومیت ژوندی حال دی؛همداسې په فلسطین، برما، عراق، سوریه، افغانستان، صومالیا، او نورو اسلامي ممالکو کې وحشي او مغرور واکمنان زمونږ او ستاسو پر خويندو تر دې هم زړه بوږنونکي ظلمونه کوي.

نن که زمونږ خويندې د ابوغریب او نورو زندانونو د تورو تمبو شاته د اسلام د مجاهدینو او غیرتي ځوانانو د تکبیرونو او موټربمونو د اوازونو په انتظار دي، نن که دوی د الله اکبر د هغو نارو په انتظار دي چې اوس هم د کفر پر برجونو د زلزلې راوستلو توان لري؛ نو اې د نړۍ غیرتي ځوانانو! دا خويندې تاسو ته سترګې په لار دي. دژوند د سختو کړاوونو زغملو او له هغو څخه د خلاصون تمه یې ستاسو په غیرت پورې تړلې ده، همداسې په نورو اسلامي ممالکو کې کړیدلي او محکوم مسلمانان زمونږ په انتظار دي. د هغوی له ټپي سینو دا اواز اوچت دی چې کاشکي هغه مجاهدین چې د بشریت بڼ ته یې عدل، انصاف او آزادي راوستله او نړۍ یې په شرعي ښکلا ښایسته کړله د خپلو خویندو، میندو عزتونه یې وساتل،نو له دې ظالم نه هم توره واخلي غرور یې مات کړي، د دوی غیرت او شجاعت هغه ازغن بوټي تر پښو لاندې کړي چې د انسانیت او آزادۍ لمن پکې نښتې ده.

مسلمانو وروڼو! یو څو دقیقې سترګې پټې کړئ، فکر وکړئ چې دا زمونږ خويندې چې له داسي وحشتونو سره لاس او ګریوان دي د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د امت لوڼې دي. د فاطمې خور د لیک توري او الفاظ په ذهن کې راولئ، هغه څه وایې چې په یوه ورځ کې پر ما نهه کرته تجاوز کېږي! آیا ستا ذهن د دې خبرې د اوریدو توان لري؟ آیا ستا غیرت ته ګواښ نه متوجه کېږي؟

وړاندې راځه! فاطمه وایې چې له ما سره دیارلس نورې داسې پېغلې دي چې د یو بل په وړاندې پرې په شرابو مست وحشي درندګان تجاوزکوي. آیا ستا به څه حال وي او د الله جل جلاله د دې آیت ځواب به څنګه وایې، چې(اِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ اِخْوَةٌ) کچېرته د مسلمانې خور په سترګه ورته ګورئ نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې پرې غيرت نه کوئ، او که مسلمانه خور يې نه ګڼئ نو بيا کله مسلمان ياست! فاطمه خور وايې چې زما ترمخ اوس چې ليک درته ليکم، يوې خور ځان شهيد کړ، هغه څنګه؟ داسې چې زموږ په مخ کې يوه وحشي پرې تجاوز وکړ اودومره يې وځوروله چې په سينه او ورنو کې يې ورته زخمونه جوړ کړل.

دې زوربدلې خور چې نور يې حوصله ختمه وه اونور يې دداسې ظلمونو دزغملو توان نه درلود، نو خپل سر يې تر هغه د زندان له ديواله ووهه څو چې شهيده شوه! ماغزه يې دزندان پر ديوال نقش شول اود غربی تمدن او وحشت يادګار يې پرېښود. ددې ترخڼګ نورو مظلومو خويندو ددې شهيدې بربنډ جسد ته په حيرت او حسرت کتل. دنړۍ غيرتي ځوانانو ! ددې شهيدې او مظلومې خور دبې وسۍ او بربنډۍ دغه تصوير دحال په ژبه دنړۍ مسلمانانو ته څه وايې:

ماته مه ګورئ، ماته نږدې مه راځئ، دنړۍ ټولې ډيوې مړې کړئ، لمر، سپوږمۍ اوستوريو ته ووايئ، چې دتل لپاره ډوب شي، چې دابو غريب په زندان کې څوک ما پر دې حال ونه ګوري. دهغې په غږېدلو سترګو کې د ولس زامنو ته يوه هيله يو پيغام و، چې زه ستاسو عزت يم، تاسو زما په ابرو سوګند خوړلی شئ، زه هغه لوريم چې ددمشق په ماڼيو يې لړزه راوسته. د محمدبن قاسم توره ما له تېکي را اېستلي ده. سند زما لپاره فتح شو. زه هغه خوريم چې معتصم راته لبيک ووايه. زه هغه موريم چې محمود غزنوي ته يې شيدې ورکړې دي. دسومنات بت ماتونکي مجاهد ته ما للوـ للو ويلي دي. زه هغه لوريم چې په رګونو کې يې د صلاح الدين ايوبی وينه ده. دغيرت او عفت منارونه زما لپاره جوړ شوي دي. ما په دې وطن کې تر پيړيو- پيړيو دفتحو ترانې ويلې دي. ای قومه زه څوک يم ؟!

دشهيدانو اروا! دخدای په دربارکې دعا وکړئ چې ستاسو دقوم دځوانانو زړونه له سکروټو ډک کړي چې دوی ددې خاورې سپېڅلتيا هېره نکړي. چې زمونږ وينې پرې توی شوې دي. چې زمونږ ابرو پرې لوټ شوې ده. زمونږ ساه چې دبدن له قيد څخه ازاده شي هغو ميدانونو ته به والوزي چې زمونږ ورونه پرې داسلام دبري دبيرغونو د رپولو په هڅه کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دمسلمانانو غوږونو ته دقوم دهغو لوېو فرياد رسوم، چې عصمتونه يې لوټ شوي دي اوهغه خويندې خپلو غيرتي وروڼو ته خطاب کوي چې پرمونږ غيرت وکړئ. هغوی پوښتي چې ايا تاسو دهماغه قوم بچيان ياست چې دانسانيت دساتنې لپاره را پورته شوي و؟ ايا تاسو هماغه غيرتيان ياست چې تورې يې دظلم دلاس دپرېکولو لپاره او چتېږي؟ ستاسو ميندې پوښتنه کوي چې زمونږ غيرتي زامن چېرته دي؟ ستاسو خويندی وايې چې دظلم لاس چې زمونږ د عصمت پر لور را اوږدېږي، زمونږ غيرتي ورڼه چېرته دي؟ ايا تا سو دهغه قوم بچيان ياست چې ديوې غريبې خور دعزت لپاره يې لويې لويې پاچاهی ترپښو لاندې کړې؟ پر تاسو څه شوي دي؟ مونږ خپل رب ته دعا کوو چې اې دسزا او جزا مالکه! مونږ ته ټينګار او حوصله راکړې ته زمونږ بې وسي وينې، ته مو له کمزورېو خبر يې؛ خو خدايه دې وحشيانو ته زمونږ کمزوري مه ښکاروې. زمونږ مظلوميت يوازې ستا د رحمت دروازه ټکوي.

مسلمانانو وروڼو! سترګې مه خلاصوئ، اوښکې مه وچوئ. تنها دابو غريب دزندان ناخوالې نه دي، بلکې ډېرې دحيا خاوندانې دوحشت ښکار شوې دي. فاطمه خور په دې جرم له داسې وحشتونو سره لاس اوګريوان وه، چې دهغې ورور دامريکايې يرغل او ښکېلاک په مقابل کې توره اوچته کړې وه، خو دبشر دحقوقو درواغجن مدعيان د انسانيت پر پولو وختل او د خپل پوځې يرغل په مقابل کې يې د راپورته شويو ځوانانو په اسارت او شهادت زړه يخ نه شو. دفاطمې دورور په نيولو او شهادت باندې بريالي نشول؛ نودې ظالمانو مظلومه فاطمه ورسره زندان ته يوړه او خپل انتقام يې له فاطمې څخه وا خيست.چې اخېر ددې وحشتونو ښکارشوه او دابد دنيا ته يې پنا يوړه. د شهيدانو له سپېڅلي کاروان سره ملګرې شوه او داسلام په تاريخ کې يې دمسلمانانو لپاره بوږنونکې او له دردونو ډک باب پرانيست. په خپله ددې سپېڅلي دين لپاره قربان شوه او خپل کړېدلی او مظلوم وجود يې الله پاک ته وقف کړ. ددې ورور چې مجاهد و ديرغلګرو په الوزولو اوکابولو يې زړه يخ نشو. اخرېې پر ابو غريب زندان دموټربم حمله وکړه اود شهادت لوړ مقام ته ورسېد؛ خو خپل د ژوند يادګار يې د استشهاديانو په لېست کې وليکه. دخپلې خور او نورو مسلمانو خويندو له عزت څخه يې ځان قربان کړ. خپلې غوښې او هډوکي يې دخپلو خويندو دعزت لپاره وشيندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس له ابوغريب زندانه لږ دخپل کړېدلي او ځورېدلي هېواد پر لور راځو. دلته هم ډېرې نادودې رامنځته شوې دي اوس راشئ ډاکټره عافيه صديقي هم دامريکا دوحشي تمدن دوحشتونو او اذيتونو ښکار گرځېدلې ده:

## ډاکټره عافيه صديقي دبشري ځناورو په منگولوکې

ډاکټره عافيه صديقي له هغو بد نصيبو ښځه ده چې دزندگۍ خواږه ورنه اخيستل شوي او د بشريت د دعوه دارانو د وحشت ښکار گرځېدلې ده.

ډاکټره عافيه صديقي هغه پاکستانۍ ډاکټره ده چې د پاکستان په کراچۍ ښارکې زېږېدلې او د خپلو تعليماتو لپاره امريکا ته تللې ده. هلته يې د دماغو په برخه کې دکتورا کړې ده اويوه پوه عصبي ډاکټره ده. د تعليماتو په جريان کې په امريکا کې اوسېدله. ددې تر څنگ يې په ځينو روغتونونو کې دنده هم درلوده او د خپلې سرمايې زياته برخه يې په امريکا کې د مېشتو غريبو مسلمانانو مرستې ته ځانگړې کړې وه.

کله چې د سپتمبر پر (۱۱) د امريکا پر تجارتي مرکزونو بريدونه وشول؛ وروسته چې هلته ټولو مېشتو مسلمانانو ته يو ډول د شک په سترگه کتل کېدل؛ نو څو ځله د عافيې صديقي کور هم د امريکايي پوليسو له خوا تلاشي شو. دې چې کله خپل ځان په خطر کې وليد، له خپل مېړه سره يې افغانستان ته د تلو تکل وکړ. امريکايانو چې پر افغانستان باندې حمله کړې وه؛ نو دوی غوښتل چې په افغانستان کې د مجاهدينو د زخميانو درملنه وکړي. کله چې ايرپوټ ته راغلل،(دوی چې مخکې هم د پوليسو تر تعقيب لاندې و) نو د امريکايي ځواکونو له خوا تلاشي شول او افغانستان ته يې له تلو څخه منع کړل. نو دوی پاکستان ته ستانه شول او هلته يې د کراچۍ کې په يوه پوهنتون کې وظيفه پيدا کړه. عافيه صديقي له يو علمي خاندان څخه وه چې پلار او خور يې هم د اعصابو ډاکټران دي.

په (۲۰۰۳)کال کې يې د پلار د ليدلو لپاره اسلام آباد ته د تلو تکل وکړ، چې د لارې په اوږدو کې له خپلو دريو ماشومانو سره د پاکستان د مزدور حکومت د اجيرو عسکرو له خوا ونيول شول او درک يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورک شو، یعني د پاکستان اجیر حکومت دا په امریکایانو خرڅه کړې وه او هغوی ته یې سپارلې وه. کورنۍ یې اخوا دېخوا لالهانده ګرځېده، خو د عافیې غریبې هېڅ درک نه وه. عافیه صدیقي د باګرام په زندان کې د مظلومیت شپې او ورځې سبا کولې. دغه ۳۷ کلنه پاکستانۍ مسلمانه او مجاهده مېرمن د باګرام په زندان کې یواځینۍ مېرمن وه چې له خپلو دریو ماشومانو سره راوړل شوې وه. دبشریت قاتلانو ورته سختې شکنجې ورکولې او د دې د اسلامي او ایماني غرور د ماتولو لپاره یې قرانکریم ورته څېرې کړی و چې پر پاڼو یې وخېژي. پاڼې یې پر ځمکه ورته غوړولې وې کله چې هغې له دې کاره انکار وکړ، نو دې ظالمانو پرې داسې ظلمونه وکړل چې داسې یوه د نازکو او نحیفو اندامونو ښځینه مېرمن خو پرېږده، چې هغه د ډېرو په څېر کلک نارینه یې هم نشي زغملی. دې وحشي درنده ګانو او دغرب په چټل اوبې حیا چاپېریال کې رالوی شویو، درنده ګانو له هېڅ رنګه جبر او ستم څخه مخ وانه اړاوه او دا مظلومه د دوی د هوس، مستیو او جنسي تجاوزونو ښکار شوه. د باګرام له بدنام زندان څخه د باندې ددې مظلومې زړه سورې کونکې کریږې او فریادونه هیچا هم نه اورېدل. په توروشپو کې د وحشیانو د ظلمونو له لاسه د هغې خپې سلګۍ او ساړه آهونه هیچا هم نه اورېدل، هغه د باندې د دیموکراسي مدعیان چې شپه او ورځ یې یوه کړې ده د ښځو د حقوقو، د بشري حقوقو، او د ماشومانو د حقوقو درواغجنو او غولونکو ویناوو یې د خلکو غوږونه کاڼه کړي دي. راډیوګانې تلویزونونه او ټولې اجیرې رسنۍ یې شپه او ورځ په کار لګیا دي او د غرب تمدن او د هغوی د دروغو شعارات خپروي. ولې دې درواغجنو د عافیې چیغې وانه ورېدې؟ د هغې آهونه یې وانه ورېدل؟ ایا د هغې معصوم ماشومان انساني حقوق نه لري؟**

**د عافیې صدیقي د وړو ماشومانو چې د دوه، دریو او پنځو کالونو عمر لري د امریکا قاتلان دي، تروریستان دي. دا د بوش او اوباما لښکرې د نړیوال جبر ستر مجرمین دي، مظلومه عافیه ورته بشر نه ښکاري؟ هغه بشري حقوق نلري؟ هغه د ښځو د حقوقو له چوکاټ څخه بهر ده؟ ددې تنکي= تنکي ماشومان د بشریت قاتلین او تروریستان دي؛ دوی درواغجن شعارونه او د ښځو دحقوقو د دفاع نارې تنها د هغوی لپاره وهي چې دوی یې بربنډتیا، عیاشي او فحاشي ته رابولي. او یاهغه چې د دوی دې نعرو ته لبیک وایي. د دې درواغجنو ادعاوي خاص تر دوی پورې محدودې دي. د دوی په آند**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښځو او بشر حقوق په ستاره افغان او د شپې په کلبونو کې محصور دي. دوی د مادي نړۍ په غېږ کې اصلا د ښځو د حقوقو تر عنوان لاندي بې حجابي، بې حيايي او ډمتوب ته وده ورکوي. دوی د داسې مظلومو او بې وسه تورسريو او ماشومانو د کريږو او فريادونو اوريدلو ته تيار ندي چې د امريکا دقدرت په پنجو کې راګير دي.

د عافيې صديقي د مظلوميت چيغو او فريادونو يوازې د بګرام د زندان بې ګنا بنديان ځورول. هغه بنديان چې د ظلم او جبر په محکمو ځنځيرونو تړلي و. هغو يې په بې وسۍ سره چيغې اورېدې، ولې هېڅ يې په وس کې نه و.

دا په باګرام کې په (۶۳۰)نمبر زنداني باندې مشهوره وه ځکه دا امريکايانو پټه ساتلې وه. کله چې له دې زندان څخه ځينې بنديان را خلاص شول، هغوی د دې ښځې د فريادونو هغه کيسې خلکو ته وکړې، چې دوی په بګرام زندان کې اورېدلې وې. خو چا ته دا حال معلوم نه و چې دا مظلومه مېرمن څوک ده او ولې ورسره ظلم کېږي؟ بالآخره فرانسوۍ خبريالې يوآن رډلي (چې د طالبانو په وخت کې د دوی لخوا نيول شوې او بيا بيرته له څه وخت زندان څخه وروسته خوشې شوې وه دا د طالبانو له ښه سلوك او اسلامې اخلاقو څخه متأثره شوې وه او بيا مسلمانه شوه. اوس يې نوم مريم دی دا په ۲۰۰۸م کال کې د بګرام زندان ته راغله چې د بنديانو حالت وګوري) د دې ښځې حال معلوم کړ. بيا يې پاکستان ته سفر وکړ او هلته يې په يوه خبرې کنفرانس کې، په داسې حال کې چې له سترګو يې اوښکې بهېدې، خلکو ته څرکنده کړه چې هغه مظلومه مېرمن چې د باګرام په زندان کې د مظلوميت شپې ورځې سبا کوي، عافيه صديقي ده. دې خبريالې د عافيې د مظلوميت داستان په ټوله نړۍ کې نشر کړ او څو ورځې دا خبر د نړيوالو رسنيو د توجه وړ وګرځېده. کله چې دا معامله افشا شوه د بشريت دښمنانانو عافيې ته توطئه جوړه کړه او د غزني په ښار کې يې خوشې کړه. بيا افغاني پوليسو ونيوله. توريې پرې ولګاوه چې يوه پاکستانۍ مېرمن يې له خپل لس کلن زوی سره نيولې ده. او غوښتل يې د غزني پر والي باندې بريد وکړي. په دې وخت کې چې کومه توطئه د غربي شيطانانو له خوا ورته جوړه شوې وه عملي شوه او امريکايي (FBI) سرتيري په دې بانه راغلل چې له عافيې نه تحقيق وکړي. کله چې دوی د تحقيق خونې ته ورننوتل په عافيه باندې يې ډزې وکړې. دا زخمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه او دوی په خپله توطئه کې کامیاب شول. د غزني د مقاماتو له خولې چې د تحقیق آمر یو چا ته قیصه کړې وه، ویلي یې و چې کله دا مېرمن ونیول شوه نو ډېره ضعیفه وه او ما تري نه د تحقیق کولو هڅه وکړه؛ خو د خبرو کولو توان یې نه درلود. د سختو شکنجو آثار یې په وجود کې ښکارېدل او زه یې په خبره دومره پوی شوم چې راته یې ویل د الله لپاره امریکایانو ته مي مه سپارئ. له امریکایانو څخه سخته وېرېدله. بس دومره پوی شوم.

کله چې امریکایي ځواکونو زخمي کړه اوله ځان سره یې یوړه، نو ټولو خلکو ته څرګنده شوه چې دا یوه توطئه وه چې له مخکې پلان شوې وه.

د ښځو د حقوقو د دعوه دارانو، د دیموکراسۍ د مدعیانو د دې مظلومې خور په پنځه کلن تعذیب زړه یخ نه شو او په هغه برسېره یې په خپلو قاتلو ټوپکو وویشته. د ظلم په مرمیو یې زخمي کړه او تردې وروسته یې امریکا ته یووړه. په دې وروستیو کې د واشنګټن دیموکرات حکومت د عدالت محکمې ته په داسې حال کې راوسته، چې په خپلو پښو نشوای درېدلی او په نورو یې تکیه کړې وه. دنړیوال جبر آثار یې په وجود کې ښکارېدل. او کله چې د ښځو حقوقو ته متعهدو کفارو(!) او د واشنګټن د عدالت محکمې دې ته د ۸۶کاله بند سزا واوروله، نو ددې له خولې دا کلمه ووتله چې:(أُفَوِّضُ أَمْرِي اَلَى اللّهِ) یعنې زه مې خپله معامله الله جل جلاله ته سپارم .

د عافیې خور ډاکټره فوزیه صدیقي وایي چې خور یې د سختو شکنجو او جنسي تېریو له وجهې سخته ضعیفه شوې او په دې اخرو وختو کې د سرطان په ناروغۍ هم اخته ده. کله چې د امریکا د عدالت په علنۍ محکمه کې بې جرمه د ۸۶ کاله بند سزا ورته واوروله شوه نو ځینو رسنیو او مدني ټولنو د عافیې د خوشې کېدو غوښتنه وکړه. همدارنګه په پاکستان کې خلکو مظاهرې وکړې، خو د وزو احتجاج هېڅکله د لیوانو فطرت نشي بدلولای. امریکایي آبرقدرت دې ناروته هېڅ توجه ونکړه. عافیه یې دخپل عدل زندان ته ولېږله او اوس هم پکې د مرګ په انتظار دمظلومېت شپې او ورځې تېروي. د پاکستان ظالم او جابر حکومت د خپلو لوڼو د عزت او عصمت په خرڅولو نه شرمېږي. مظلومه عافیه یې په امرکا خرڅه کړه. کله چې دې ته د ۸۶ کاله بند سزا واورول شوه. د پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت هېڅ هم ونه ویل. اندیښنه یې هم څرګنده نه کړه، ځکه د پاکستان حکومت یو کفري او سیکولر حکومت دی؛ خو دا ذمه واري د مسلمانانو ده چې له دې وحشیانو څخه انتقام واخلي. په نړۍ کې هېڅ داسې څوک پیدا نه شول چې له دې ځناورو د عافیې پوښتنه وکړي. هیچا د دې د مظلومیت فریادونه وانه ورېدل؛ خو الله جل جلاله به د دې د سویو آهونو او خپو سلګیو په عوض کې خپل نعمتونه ورکوي.

اصلا په آزاده نړۍ کې موږ بندیان یو، چې خپل غږ نه شو اوچتولی. د دې مظلومو خویندو د ابرو او عزت پوښتنه نه شو کولای.

مسلمانانو ! مونږ او تاسو ټول ځانونو ته مسلمانان وایو؛ خو اسلام قرباني هم غواړي بې قرباني د جنت دعوه کول، بې عقلي د ه. ځکه مسلمانانو فکر وکړئ چې په یوه مسلمانه خو ر ظلمونه کېږي، یا نورو هغو خلکو ته فکر وکړئ چې د الله جل جلاله په لار کې ځانونه ټوټه ټوټه کوي، دا خو د الله جل جلاله لپاره دي. نو الله پاک به دوی ته اِن شاءالله جنت ورکوي. مسلمانه ته فکر وکړه، هغو ته د دومره تکلیفونو او قربانیو په عوض کې جنت ورکول کېږي او ته یې په مفته او له عیاشۍ ډکه زندګي کې غواړې. دا خو محاله ده اسلام سرښندنه غواړي. دا دیوې مسلمانې خورکۍ له غمه ډک داستان و.

الله جل جلاله دې د اسلامي امت د ځوانانو زړونه د انتقام د اور له لمبو څخه ډک کړي. چې د حق میدان ته را ووزي او پر دې جابرانو باندې دنیا تنګه کړي. اوس راځم د افغانستان غیرتي ولس ته خطاب کوم او خاص د هغوی غیرت او ځوانۍ ته چېلنج ورکوم چې څه کوئ ؟ د افغانستان عزتمنو او عفیفو پېغلو پاکو لمنو ته د غرب د سپیو لاسونه ور اوږده شوي دي تاسو څه کوئ؟ آیا غیرت پرې کوئ که نه ؟

د عافیې په څېر د څو نورو خویندو د مظلومیت داستانونه هم ستاسو مخې ته ږدم. نور قضاوت تاسې ته سپارم له خپل ایمان، وجدان او له خپل رب سره مو فیصله وکړئ چې څه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دګوانتنامو د وحشت ژوندی تصویر ستاسې مخې ته ږدم، بیا به د افغانستان څو واقعې درته وړاندې کړم.

## دګونتنامو وحشت

مسلمانانو ورونو! قلم یې دلیکلو توان نه لري؛ خو د اسلامي امت د بیدارۍ لپاره مجبور یم هغه څه ولیکم، چې د لیکلو او څرګندلو نه دي. ګوانتنامو ته ځو د انسانیت او بشریت د درواغجنو د عوه دارانو بلکي د بشریت د سترو قاتلینو د وحشت څپې د انسانیت له پولو واوښتې. هغه اعمال چې د اورېدلو په وخت کې یې په مسلمان باندي لړزه راځي؛ نو یوه ډېره زړه دردونکې واقعه ستاسو غیرت ته مخاطبه او متوجه کوم. یو ملګری چې دګوانتنامو له وحشي زندان څخه راخلاص شوی، څو کاله یې د دې جهنمي زندان تعذیب ګاللی او هلته یې د مظلومیت شپې ورځې تېرې کړې دي، قیصه راته کوله چې په ګوانتنامو زندان کې د افغانانو په څېر عرب هم ډېر دي. زما د څنګ د پنجرې ملګری یو عرب ځوان و، چې همېش به یې طبیعت خراب او خفه به و؛ خو دا خفګان او مړاویتوب یې د تعذیب له کبله نه و، ما به ترېنه پوښتنه کوله چې ولې خفه یې؟ څه خبره ده؟ ده به راته وویل چې دې وحشیانو زه په افغانستان کې ونیولم او زما سره زما مېرمن هم وه. دلته یې راوړم نور نه پوهېږم چې زما د مېرمنې به څه حال وي؟ ما به ورته تسلي ورکوله چې په افغانستان کې به وي او د افغانستان خلک غیرتي او مسلمان خلک دي. ستاسو تورسریو ته ډېر احترام لري کېدای شي چیر ته به د امن ژوند کوي؛ خو دی به همېش په دې فکرونو کې ډوب و. د ارام خوب یې تښتېدلی و. نو وخت تېرېده، څو ورځې وروسته د بشریت د ښمنانو د انسانیت قاتلانو دګوانتنامو د زندان څو تنو امریکایي پیره دارانو یوه بربنډه ښځه، چې سر یې ور خریلی و د دهلېز په منځ کې راروانه کړې وه. ډېره سخته او دردونکې صحنه وه. بندیان پوی شول چې حتماً کومه مسلمانه ښځه د دوی د ظلم ښکار ګرځېدلې ده، خو بې وسه بندیانو بې دعاګانو نور هېڅ نشوای کولای؛ خو زما د څنګ د پنجرې عرب ملګري چې کله دا حالت ولید نو له خولې څخه یې یوه چیغه ووته او بې هوشه شو. د دهلېز په ټولو زندانیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې دا واقعه ډېره سخته تمامه شوه، د ظلم او وحشت شپې ورځې تېرېدلې. دوې هفتې وروسته راته دې عرب ملگري وويل چې هغه ښځه دې په هغه ورځ وليده؟ ما ويل هو! ده راته وويل، چې دا زما ښځه وه چې دلته يې راوستې وه؛ الله اکبر !

د يويشتمې پېړۍ متمدنو مسلمانانو آيا دا ستاسو خورنه ده؟ آيا دا د الله جل جلاله د نازولي پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د امت لور نه ده؟ تاسو په آزاده نړۍ کې د اسلام او مسلماني دعوې کوئ؛ مگر د اسلام لپاره د قرباني لپاره هېڅ درېکې نشته.

اې د نړۍ په عيش او عشرت مستو زلميانو! د قيامت په ورځ به الله جل جلاله ته څه ځواب وايئ؟ ستاسو د غفلت او مستيو له وجهې اوس کفار دومره زړور شوي دي، چې ستاسو په خپلو وطنونو کې ستاسو د عفيفو خويندو عزتونه لوټوي. دغه خويندې چې د نړيوال جبر او عصري تمدن او د درواغجنو بشري مدعيانو په بند کې شپې او ورځې سبا کوي،، دغو مظلومو خويندو به څومره آهونه کړي وي؟ څومره چيغې او فريادونه به يې کړي وي؟ هاغه د پردو تر شاپټ حقايق، هغه په تورو زندانونو کې، په تېپو تورو شپو کې، د مايوسۍ خپې سلگۍ، هغه د غم او درد د اوښکو سيلاب ستاسو په ضمير او وجدان هېڅ اغېزه نه کوي؟ آيا تاسې د دې آرام او سوکاله ژوند لپاره پيدا شوي ياست؟ آيا تاته د خپلو خويندو، ميندو دعزت د ساتلو ذمه واري نه ده سپارل شوې؟ آيا دا د عيش او عشرت ژوند به تر کومه ستا پښو ته د ذلت او بې غيرتي زولنې در اچولې وي؟، کله به هغه د سختيو زندگې ته ورځې؟ لکه رسول صلی الله عليه وسلم فرمايې چې:(الدنيا سجن المومن و جنة الکافر)دنيا د مسلمان او مومن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت ده؛ نو تا ولې په دې دنيا کې د جنت په شان زندگي غوره کړې ده؟ څه وخت به د الله جل جلاله د دين دا سختو لارو ته راوځې؟ ستا غيرت به څه وخت تا د سنگر په لور رهبري کوي؟ ته به څه وخت د مقابلې ډگر ته کوزېږې؟ د دې مظلومو خويندو د وا معتصما ! او وامحمدا! د فريادونو ځواب به څوک وايي؟ دې ناروته به څوک لبيک وايي؟ ددوی د مظلوميت او معصوميت زنځيرونه به څوک ماتوي؟ دغه چيغې به د چا په زړه او وجدان اثر کوي؟ د چا ضمير به راويښوي؟ څوک د هغو سختو او وحشتناکو صحنو تصور کوي چې دا خويندې يې زغمي؟ د هغو کفارو غرور به کوم معتصم ماتوي؟ چې ستا مسلمانې خور ته ستا د بې غيرتي پيغور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي؟ څوک به د هغو بې حيا وحشيانو ککرۍ الوزوي چې ستا د عفيفو او پاک لمنو خويندو د ژړاګانو او فريادونو په مقابل کې کړسندې او بې حيا خنداګانې کوي؟ آخر به د دې خويندو انتقام څوک اخلې څوک به د دوی مظلوم آهونه اورې؟؟

د نړۍ مسلمانانو! او د انقلابي افغانستان غيرتي شازلميانو! راځم ستاسو ځواني، ايمان، غيرت، او افغانيت ته چېلنج ورکوم. يوه بله واقعه ستاسو ضمير ته متوجه کوم. کېدای شي اسلامي، افغاني ، او د ځوانۍ غيرت مو راوپارېږي. د افغانستان د خوست په ولايت کې يوه شپه د بشريت دښمنانو د يوه مسلمان او په دين مين افغان په کور چا په ووهله. له وحشت او تالاشيو وروسته يې پلار او يو زلمی زوی د خپل کور په منځ کې د ټولو تر مخ ورته د شهادت په خوب ويده کړل. د ماشيندارو مرمۍ يې د دې مظلومو په ټټر کې ورخښې کړې. د ښځو او ماشومانو کريږو اسمان او د شپې خپه فضا په سر اخيستې وه، کائناتو په غمجن نظر د دې ظلم تماشه کوله. سپوږمۍ هم د ځمکې په مخ د يويشتمې پېړۍ د متمدنو(!) وحشيانو د ظلم انځورونه ليدل. دشنه آسمان په لمن کې ماشومو ستوريو اوښکې تويولې. دځمکې د سر او ګاونډ مسلمانان له ډاره بې سده او سرکوبه په خپلو کورونو کې پراته و. د خوځښت حس پکې نه و چې يو ځل بيا د تورې شپې په غمجنه فضا کې د هوايي بلاوو غږ اوچت شو او د بشري يرغلګرو ځرخکې له ځمکې سره ولګېدې. د صليب د بندګانو چې د دې ماشومانو دباباجان او ورور جان په شهادت يې تنده ماته نه وه د شهيد پلار ځوانه او پېغله لور يې هم له ځان سره ځرخکو ته پورته کړه او دنامعلوم هدف په لور يې له ځان سره يوړه. پر دې وحشي درنده ګانو د معصومو ماشومانو کريږو او چيغو هېڅ اغېزه ونکړه. په وحشي سپيو يې وداړل. امريکايې درندګانو د دې ماشومانو او تورسريو د چيغو او آهونو هېڅ پروا ونه کړه، په کړسندو خنداګانو او فاتحانه انداز سره د خپل هدف په لور روان شول او د شهيد پلار مظلومه لور يې له ځان سره بوتله.

افغان ځوانه ! ستا غيرت څه وايي؟ ايا دازغملی شې چې له زرګونو کېلو مترو ليرې راغلي وحشي کفار ستا پر مقدسه او غيرتي خاوره ستا له عفيفو او پاک لمنو خويندو سره دا شان ظلمونه کوي؟ فکر وکړه دې خور ته به څه ورپېښ شوي وي؟ هغه د حيا، عفت، ايمان ، او غيرت مجسمه مسلمانه پېغله چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنې چم کې يې د حيا د ديوالونو تر شا خپل عزت ساتلی و، نن د وحشي صليبيانو د وحشت آله وګرځېده. دا به څنګه ايمان او غيرت وي چې دا قسم معامله به زغمي؟

د نړۍ مسلمانانو! الله جل جلاله ته به څه ځواب ورکوئ او د قيامت په ورځ به دې مظلومو او کړېدلو خويندو ته څه ځواب وايئ؟ په افغاني ټولنه کې که څوک د يو چا کور ته په پټه يا په زور ور واوړي، هغه افغان يا به دی وژني يا به ځان پرې وژني؛ نو اوس چې وحشي درنده‌ګان امريکايې سپي ستا کور ته په نيمه شپه در واوړي او بيا داسې ناوړه اعمال ترسره کوي، تاسو ته قضاوت په لاس درکوم، له دوی سره به څه کوئ؟! د مسلمان غيرت خو دا عمل نشي زغملای، د داسي ځناور او وحشي کافر په مقابل کې به يې څنګه وزغمي؟

په آزاده نړۍ کې مسلمانانو! داسې فکروکړئ، که چيرې د قيامت په ورځ دا مسلمانه خور د حشر په ميدان کې تنها د افغانستان نه بلکې د ټول جهان د مسلمانانو په مخ کې ودرېږي او درته ووايي چې تاسو په دنيا کې ولې پر ما باندې غيرت نه کاوه؟ زه ستاسو ناموس نه وم؟ زه ستاسو لور ستاسو خور نه وم؟ ولې ظالمانو زما د حيا او عفت جامې څيرې کړې؟ ولې يې زما له سره د عزت پړونی وغورځاوو؟ ايا داظلمونه د څه په خاطر له ما سره کېدل؟ که د اسلام په خاطر له ماسره کېدل، ولې تاسو راباندې غيرت نه کاوو؟ او نن ولې ټول د مسلمانۍ دعوه کوئ؟ نو مسلمانانو ستاسو ځواب به دې خور ته څه وي؟! آيا ځواب لرئ؟ مخکې له دې چې د الله جل جلاله حضور، حساب او کتاب ته وړاندې شئ د دې خور به څه ځواب وايئ؟ آيا يو قدم به مخکې ترې لاړ شئ؟ کومه بهانه ورته مخ ته کوئ؟ نو راشئ له هغې ورځې نه مخکې بايد د هغې ورځې لپاره ځواب پيدا کړو.

مسلمانه وروره! په هغه ورځ به ستا هيڅ عذر د قبول وړ نه وي؛ ځکه پر اسلامي امت به له دې سخته ورځ کله راځي؟ ستا غيرت او مېړانې ته به څه وخت ضرورت پېښېږي؟ دې خويندو چې ستاسو غيرت، ايمان او ځوانۍ ته خطاب کړی دی، ستا دې داځواني خاورې شي چې د داسې مظلومو خويندو له عزته به يې نه قربانوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانه وروره ! یوه شېبه سر په ځنګون کېږده او د دې واقعې انځور د تخیل په دنیاګۍ کې راوله دا کیسې چې په غیرتي افغانستان کې پېښېږي. یوازې د دې واقعاتو د کلماتو په اورېدلو اکتفا مه کوه، بلکې د دې کیسې ژوندی تصویر په ذهن کې راوله او د ضمیر او غیرت په هنداره کې یې ښه وګوره.

## دوې بد نصیبې

قصه داسې ده چې یوه ورځ امریکایي یر غلګرو دافغانستان په یوه کلي کې د دوه مهمو طالب قومندانانو- چې په امریکایانو یې ځمکه تنګه کړې او سره تبۍ ګرځولې وه، دهغوی غروریې مات کړی و. پر کورونو چاپه واچوله. طالب قومندانانو له یرغلګرو سره سخت مقاومت وکړ، ډېر یې دجهنم کندې ته وغورځول. بالآخره دواړو مجاهدینو دشهادت جامونه نوش کړل او د ابدي ژوندیو له سپېڅلي کاروان سره ملګري شول.

دغربي درنده ګانو لاتنده ماته نه شوه. د دې شهیدو مجاهدینو ښځې یې له ځان سره څرخکو ته په داسې حال پورته کړې چې تنکیو او معصومو ماشومانو یې په چیغو اسمان لړزاوه. د میندو په سینو پورې نښتي و؛ خو د غرب ځناورو دا تنکي ماشومان د میندو له مینه ناکې غېږې جدا کړل او په ځمکه یې ګوزار کړل. د دوی میندې یې په داسې حال کې خپلو څرخکو ته پورته کړې چې چیغو او فریادونو یې د شپې په خپه فضا کې آزانګې جوړې کړې او مسلمانانو ته یې چیغې ووهلې. مګر هیڅا دغه د مظلومیت او حسرت چیغې نه اورېدې. کله چې څرخکې پورته شوې او پر کلي یې دوره ووهله. زړه یې ډاډه و چې دلته نور دوی ته خطر نشته. ځکه دلته یې دوه د غیرت غرونه مات کړل. نور یې په چا کې غیرت نه لید چې دوی ته به وروګوري، دوی د مسلمانانو د غیرت د معلومولو په خاطر د دواړو ښځو جامې لاندې په کلي را وغورځولې چې خلکو ته ښه څرګنده شي چې د مجاهدینو مېرمنو ته څه ور پېښ شول؛ الله اکبر !

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په غیرتي خاوره کې د صلیب بنده‌ګانو داسې نادودې، او ظلمونه وکړل چې کله انسان د دې پېښو تصور کوي، نو که چیرته غیرت او ایمان ولري. وایې به چې کاشکې مې په دنیا کې سل زره ژوندونه درلودلای چې یو پر بل پسې مې د دغو پاک لمنو خویندو له عزته قربانولی. هغه به څنګه ضمیر او احساس وي چې په دې پېښو یې په زړه کې درد پیدا نشي.

اې د افغانستان غیرتي ځوانانو! ستاسو د ډېرو په زړونو کې به د جهاد مینه وي یا به د دې واقعاتو په لوستلو ستاسو جذبات راپارېدلي وي او له جهاد سره به مو مینه پیدا وي، خو د جهاد دامینه به تر څو پټه ساتئ؟ ترڅو به ستاسو د جهاد مینه د خجالت په هغو اوښکو کې پټه وي، چې د مسلمانانو په غمونو یې تویوئ؟ تر څو به د یوې ترانې او یا تقریر په اورېدلو سره ستاسو احساسات او جذبات راپارېږي؟ تر څو به په مبایل او کمپیوټر کې د نورو د اتلولي کارنامې او مېړانه‌ګورئ؟ تر څو به د شهیدانو عکسونو او فلمونو ته د حسرت اوښکې تویوئ؟ دا شیان جینکو ته پرېږدئ، چې سنګر ته نشي تلای. ته خو نارینه یې. له دې خویندو درته شرم په کار دی چې د بې غیرتي پېغورونه درکوي. ورو‌ره سرمه پورته کوه داسې فکر وکړه چې دغه ښځې ستا میندې، خویندې، او مېرمنې دي. آیا د دغه ډول تخیل او فکر جرآت کولای شې؟ که مو ځواب (نه) وي نو باور وکړئ چې کټ مټ دغه حقایق په افغانستان کې پېښېږي. په داسې حال کې چې دا خویندې تاسو ته چیغې وهي، چې له دې ظلم نه مو خلاصې کړئ. دغه خویندې وایې چې الله جل جلاله ته به زمونږ مرستې ته ستاسو د نه راتلو شکایت کوو او تر هغو به مونږ د وا معتصما ! چیغې وهو څو چې د نړۍ په کوم ګوټ کې کوم معتصم یا محمدبن قاسم را پیدا نشي او زمونږ فریادونو ته لبیک نه ووایې؟

زموږ له ټپي لاسونو د ذلت زنځیرونه پرانیزئ، بیرته د حیا او عفت لوپټې را په سر کړئ، زمونږ د ترورړل شوي عصمت او عزت انتقام له دې وحشیانو څخه واخلئ، د جبر او ستم په دې دوره کې یو ځل بیا د معتصم او محمدبن قاسم تاریخ راژوندی کړئ.

د تاریخ په پاڼو کې یو ځل بیا د خپلو خویندو د عزت یادګارونه په زرینو کرښو سره لیک کړئ، د اسلامي امت هغه تېر عظمت بیرته راوګرځې. که مونږ د معتصم او محمدبن قاسم له راتګه نا امیده شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې لوی جهان په کوم کونج کې محمدبن قاسم او معتصم راپيدا نه شول، نو تر هغې به دا د غرونو په څېر ستر او سخت تعذيبونه وزغمو څو چې الله جل جلاله راباندې مرګ ولوروي. که زمونږ حوصلې ختمې شوې د زندان له اوسپنيزو ديوالونو سره به تر هغو خپل سرونه ووهو، څوچې خپل روح خپل خالق ته وسپارو؛ ځکه نور زمونږ په ژوند کې څه پاتې نه دي. دا وحشيان زمونږ له وجودونو څخه استفاده کوي او د خپلې خوښۍ او شهوت آلې يې ګرځولې يو.

د دې مظلومو او بې اسرې خويندو وروستی خطاب به د نړۍ ويده ځوانانو ته د الله جل جلاله د کتاب هغه کلمات وي، چې پر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم نازل شوي دي او دا خطاب به مو داسې راګيروي چې هېڅ طرف ته به ورنه نشئ تللی. تر اوږو به مو نيسي او جټکې به درکوي او درته وايې به چې:

**وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا ﴿النساء: ٧٥﴾**

ترجمه: اخر څه شوي دي په تاسو چې د الله په لار کې نه جنګېږی حال دا چې هغه کمزوري سړي او ښځې او ماشومان چې فريادونه کوي، او وايي چې اې زمونږ ربه! مونږ وباسه ددې کلي نه چې اوسېدونکي يې ظالمان دي. او د خپل طرف نه زمونږ لپاره څوک دوست پيداکړه ، او دخپل طرف نه مونږ ته څوک مدد کونکی پيدا کړه .

داسې خطاب چې څوک ځان ته مسلمان وايې ځان ورنه نشي خلاصولی له دې ايته به چېرته تښتې؟ دقرآنکريم دمطالعې او يا په هر وخت کې چې دې دا ايت مخې ته راځي يا درياديږي، ددې مظلومو خويندو له دردہ ډک داستانونه به دې مخ ته مخ ته کېږي. په هېڅ ځای کې به ترې ځان نشی ګوښه کولی. څو چې په هغه څه عمل ونه کړې چې ددې الهي کلام غوښتنه ده هغه ددې مظلومو خويندو مرسته او ژغورل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسلامي امت ځوانانو! قسم په خدای چې دمسلمانانو د عروج او عظمت داستانونه واورئ په انسان باندې لړزه راځي. اوس چې موږ اوتاسو په متمدنه نړۍ کې ژوند کوو یوازې څو په شمار ورونو او خویندو د اسلام ناره اوچته کړې ده. له ډول ډول شکنجو سره مخ دي؛ نړیوال کفر شپه ورځ ورپسې دی. او په غرونو کې هم آرام ژوند نشي کولای.

داخاص داسلام په خاطر دي. ددې خلکو بله هیڅ گناه نشته بې له ایمان لرلو او مسلمانۍ څخه. مسلمان نه کوم اتوم لري، نه یې دچا په ملک باندې حمله کړې ده؛ خو چا چې داسلام ناره پورته کړه بس هغوی ترورستان شول. مگر څوک چې دبشریت دنابودۍ لپاره زهرجنې اسلحې جوړوي کلسترېمونه په ماشومانواوتور سرو ازمویي، کلي اوکورونه ورانوي په تشو بانو سره دمسلمانانو په حریم باندې تجاوزکوي، هغوئ د بشري حقوقو مدعیان دي. هغوئ دیرغل په جامه کې مرستندویان دي. دهغوئ په ضد نه څوک احتجاج کوي او نه یې دظلمونو او جنایتو غندنه کوي.

ځینې خو آن دجوازدلایل ورته پیداکوي، په شاپې ټپوي. ولې موږ له بشري حقوقو څخه سرغړوونکي یو. مونږ د بشر قاتلین یو. موږ ترووریستان یو. مونږ محکوم هم یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## داسلامي نړۍ دمظلوميت انځور

### پلار او څلور لوڼې

دکشمير دپلوامه ضلعې د کاکا پوره کلی څو وارې دتالاشي او پلټنې په نامه دهندي عسکرو ديرغل ښکار شو. يو ځل يرغلګرو عسکرو دنوموړي کلي ټول خلک دکلي په يو ميدان کې راجمع کړل. وروسته دوهلو او ټکولو يې په کلي کې چور اوتالان پيل کړ. په دې ترڅ کې يو اتيا کلن بوډا چې غلام محي الدين نومېده، په کور کې پټ شوی و، او د تلاشي ميدان ته نه و وتلی. دترهګرو قواو په لاس ورغی او په راښکلو يې دتالاشي ميدان ته کش کړ.

نوموړی يې دخلکو په وړاندې بربنډ کړ؛ اوبيايې دهغه څلور وادە شوې لوڼې هم راوستې. هغه يې هم بربنډې کړې. هغوی يې دې ته اړ کړې ، چې له خپل پلار سره بدفعلي وکړي. دغه ناوړه کارته دنه چمتو کېدو په صورت کې يې سخت ووهل. او د دوه زره کليوالو په مخ کې يې په زور دڅلور واړه لورانو شرمګاوې دخپل پلار له شرمګا سره ملاو کړل.

له دغه زور او ظلم څخه وروسته دغه شريف خاندان خپل کور کلی پرېښود، او د يو نامعلوم ځای پر لور لاړل. معلومات يې نشته چې مړه به وي که ژوندي، او که چېرته به دمجاهدينو په مرکز کې دانتقام لپاره دفدائي حملې لپاره تربيت حاصلوي. په کشمير کې چې کوم ظلمونه د هندي وحشيانو لخوا شوي مسلمانانو ته دعبرت درس ورکوي. نن زمونږ مسلمانې کشميرۍ خويندې دهندي ظالمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځیانو له خوا بیول کېږي او د بمبئ دحسن په بازارونو کې لیلام کېږي. خو څوک پرې غیرت نه کوي.

## بوسنیا

په نړۍ کې په ډېرو مسلمانو خویندو تېري او ظلمونه شوي دي. بې ابرو شوې دي، او په ستم سره وژل شوې دي، خو که واقعي مسلمان د بوسنیا د مسلمانانو زړه لړزونکي داستانونه واوري، ورته څرګنده به شي، چې دځمکې پر سر تراوسه داسې ظلمونه په چا ندي شوي. دبوسنیا مسلمانې تورسرې په بشپړه توګه له جامو نه بربنډېږي، او پر شپو- شپو په زندانو کې لوڅې پرتې وي، چې دصربي وحشیانو دلذتونو هډې دي. دې مظلومو ته اوبه او ډوډۍ هم نه ورکوي. په یوه ښځه باندې له دریو تر پنځوسو پورې وحشیان په شریکه تجاوز کوي؛ دجبر او ستم په دې کیمپونو کې په شپو او ورځو ورسره داسې ظلمونه روان دي. له دې امله داسې سلوک زمونږ له مسلمانو خویندو سره کېږي چې مسلمانان ښه ذلیله کړي.

مسلمانانو وروڼو! دوحشیانو په دې کیمپونو کې چې کله دیوې مسلمانې مېرمنې حمل ښکاره شي نو صربي وحشیان ورته وایې چې ځئ اوس صربي بچي وزېږوی. استغفر الله څومره دذلت مقام ده دمسلمان لپاره مرګ په کار دی چې له عفیفو خویندو سره یې داسې ظلم کېږي.

دبوسنیا کړېدلو او مظلومو خویندو دنړۍ مسلمانانو ته غږ کړی دی!.

چې اې د نړۍ مسلمانانو! له مونږ سره که نوره مرسته نشی کولای دومره خو وکړئ چې زمونږ لپاره یوه الوتکه مانع حمل ګولۍ راولېږئ، چې دخپلو ګېډو نه خو صربي بچي ونه زېږوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن په ټوله نړۍ کې مسلمانان محکوم دي. کفارو په یوه اتفاق دمسلمه امت دنابودۍ لپاره لاسونه سره یو کړي دي. امریکا چې ځان دټولې نړۍ واکداره او د بشري حقوقو او آزادۍ علمبرداره بولي، په نړۍ کې یې دظلم اورونه بل کړي دي. دخپلو ګټو په خاطر یې ځو-ځو ځله خپل امریکایي قوانین تر پښو لاندې کړي دي. په خوله دانصاف او عدالت نارې وهي؛ خو اصلاً د انصاف او عدالت مرۍ دوی خپه کړې ده. امریکا او غرب په وروستیو کې داسلام د نابودۍ لپاره په شریکه متې را بډ وهلې دي. دعربي نړۍ دتسخیر لپاره یې اسرائیلو ته بې شمېره مالي او نظامي مرستې ورکوي. مسلمانانو ته ډول ډول بانې جوړوي، کله په امریکا کې قرآنکریم ته اور اچوي کله په مکه او مدینه دیرغل ګواښونه کوي، کله دالقدس دشهیدولو هڅه کوي. خو که څوک یې په مقابل کې دمخالفت غږ پورته کوي نو ترهګر بلل کېږي. په ټوله اسلامي نړۍ کې په مسلمانو اکثریتونو او اقلیتونو باندې ظلمونه دامریکا اوغرب په اشاره کېږي. په افغانستان، عراق او ځینو نورو هېوادونو د مستقیم یرغل له لارې ظلمونه کوي، او په بعضو هېوادونو کې دهغو هېوادونو د مستبدو نظامونو نه کار اخلي او دامریکا په اشاره له خپلو مسلمانو رعیتونو سره ظلمونه کوي. لکه : قزاقستان، قرغیزستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان، شمالي قفقاز یا چیچنیا، فلسطین، کشمیر، هندوستان، یوګوسلاویا، بوسنیا، کوسوو، البانیا، بلغاریا، اندونیزیا، فلپین، برما، کمبودیا، الجزایر، مصر، سوډان، صومالیا، سوریه او داسې نور....

اسلامي هېوادونه دخپلو جابرو واکمنانو تر ظلم او ستم لاندې دي. د تاریخ په اوږدو کې که په پورتنیو هېوادونو کې دکفارو ظلمونه څوک وګوري، واقعاً که څوک اسلامي احساس ولري نو اوښکې به تم نکړای شي. او د انتقام جذبه به یې را وپارېږي. په لکونو مسلمانان په ظلم سره شهیدان شو. دلکونو او میلونونو عفیفو مسلمانو تورسریو عصمتونه لوټ شول. چې په دې وروستیو لسیزو کې ددنیا دتاریخ کرغېړنې پاڼې زمونږ د ورونو په مظلومانه شهادت او بې وسه خویندو په لوټ شویو عفتونو ډکې دي.

اوسنۍ امریکا چې دترهګرۍ او وحشت له پولو اوښتې ده، ځان دبشري حقوقو دعوه دار او دمذاهبو احترام ته ژمن بولي. خو که څوک په امریکا کې اسلام راوړي دتورو تمبو شاته غورځول کېږي، په افغانستان کې که عبدالرحمن مرتد کېږي نو امریکا او غرب یې تقدیروي او پنا ورکوي. په امریکا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرب کې ډېره او شرعي حجاب دترهګري نښه بلل کېږي. عافيه صديقي چې په امريکا کې محکمې ته بيول کېږي دوحشي قاضي په وړاندې بربنډېږي په ابو غريب کې دمسلمانو په لوڼو ډليز تجاوز کوي. دا هيڅ پروا نکوي، نه پرې ملل متحد غوږ ګروي، او نه دبشر دحقوقو سازمان، نه د ښځو دحقوقو درواغجنه ساتندويه ټولنه غږ پورته کوي. خو که په سوات کې دروغجنه ويډيو خپرېږي چې يوه ښځه په دورو وهل کېږي، نو ټوله نړۍ په شور اوغوغا راځي. که دجرمني په ډکه محکمه کې دقاضي په وړاندې په مروا الشربيني غوندې سپېڅلې او پاک لمنې مسلمانې مېرمن باندې دچاقو اتلس ګوزارونه کېږي؛ او وژل کېږي، خاوند يې ټپي کېږي، دبشر دحقوقو ټولنې غږ نه پورته کوي. که اسرائيل شپه او ورځ په غزه باندې وحشي بمباروونه کوي، دغرب له خوا په شا ټپول کېږي. او که حماس يې په مقابل کې راپورته کېږي، نو دا ترهګري ده، او بايد له منځه لاړ شي.

په افغانستان کې امريکايان په ودونو، جرګو، جنازو، مدرسو، او جوماتو بمباري کوي، دشپې له خوا په کورونو وحشيانه چاپې غورځوي، دا د ځان لپاره حق بولي. خو که څوک دخپل ځان دفاع کوي، هغه ترهګر، القاعده او طالب شي.

د دولةالاسلامي(داعش) ډلې له خوا د امريکايي خبريال سر پرېکول ستر فرعون اوباما نړۍ ته د خطر زنګ بولي. څوک چې داسلام په نامه را پورته شي بيا يې په ضد نړيوال ائتلاف شروع شي. دفرانسې پاچا اسلامي حجاب ممنوع اعلانوي، او مسلمانې عفيفې ښځې د حجاب اغوستلو لپاره دولت ته ټکس ورکوي.

اخر اسلامي نړۍ ولې محکومه ده؟ د امت ځوانانو ولې ويده ياست؟ ولې غولېدلي ياست؟
دغه حقايق چې مسلمانان يې په سترګو ويني، باورنه پرې کوي. خو دا مزدوري رسنۍ، تلويزونونه او راډيوګانې چه څه وايي بس کټ مټ يې مني.

هغه خلګ چې ذهنونه يې په راډيواوتلويزون جوړشوي دي هغوی دې لږ سرونه په ګريوان کې ټيټ کړي اوحقايقو ته دې نظر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دپاکستان دعبدالرشیدغازي دمدرسې، جامعه حفصه اولال مسجد ښځینه شاگردانو درخصت پر ځای عزیمت ته ترجیح ورکړه.**

**داسلام اوشریعت دمرستې لپاره ترمرگه په مدرسه کې پاتې شوې. دیوباوري سړي دخولې کیسه ده. هغه وایي پر هغه ورځ کله چې دپاکستان اجیر اوغلام حکومت دلال پر مسجد خونخواره حمله وکړه، په زرگونوشاگردان یې پکې شهیدان کړل. ترځنګ یې دنجونو مدرسه جامعه حفصه هم بمباري کړه اودقران کریم حافظانې یې په سرو وینو کې ولمبولې. باوروکړئ پر هغه ورځ له جوماته دوینو لښتي روان و.**

**چا چې به د وینو په لښتیو کې لاس ونیو، یا به سترگه په لاس ورتله یاکوم هډوکی اویا د شهیدو خویندو وېښتان؛ ځکه پر دې ورځ ډېرې زیاتې مسلمانې خویندې شهیدانې شوې. ایا ددې خویندو څه گناه وه؟ کوم جرم کوم جنایت یې کړی و؟ ولې پرې دماشیندارو گولۍ وچلېدلې؟ ولې ددین بلبلانې په سرو وینو کې ولمبېدې؟ ولې دهغوی تنکۍ ځوانۍ دپاکستان دظالم حکومت دظلم خوراک شوې؟**

**مسلمانه وروره! دا د اسلام په تاریخ کې دقربانیو هغه باب دی چې زمونږ خویندوپه خپلووینو سره ولیکه؛ مگر دا خو د اسلام لپاره دفاطمې، النورې، عافیې، عایشې، زینب اورقیې قربانۍ وې چې ور یې کړې او د اسلام پر دین باندې ستي شوې. تا اې حامده! اې محموده! اې عبدالله! داسلام لپاره کومې قربانۍ ورکړې؟ تا داسلام لپاره څه وکړل؟**

**ای ددنیا په عیش اوعشرت مستو خلکو! اې زړه نازړه خلکو! تاسو داسلام لپاره کومې قربانۍ ورکړې؟ سبابه مو الله جل جلاله ته ځواب څه وي؟ الله جل جلاله ته به کوم عذر وړاندې کوئ؟ ستاسو پوچ اوبې منطقه دلیلونه خو دې خویندو درته له خاوروسره خاورې کړل؟**

**اوس دنړۍ هغوځوانانوته- چې ددښمن له ډاره یې دذلت اوبې غیرتي زنده‌گي غوره کړې د،ه له زندان، مرگ او دصلیب له بندگانو وېرېږي او د جهاد او مبارزې سپېڅلې لاره یې پرېښې ده- د هغو غیرتي، حیادارو، عفیفو او په دین مینو خویندو او همدارنگه د هغو مظلومو خویندو، چې د نړیوال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبر او ظلم تر ستم لاندې دي هغه پيغام وړاندې کوم چې ددې خويندو، شعار دی. هغوی دې خلکو ته څه وايي:

((مونږ هغه چا ته چې د کفارو له زندانونو شکنجو او ظلمونو څخه ويرېږي، ورور نه شو ويلای. هېڅ يوه نجلۍ به چې دمسلمانې مور شيدې يې رودلې وي، دې ته تياره نشي چې داسې بې همته ته ورور ووايي. که دوی په خپله ذمه واري کې سستي وکړي، دجنګ ميدان ته کوز نه شي نو مونږ به خپل ټيکري ورواغوندو او ددوی زنګ وهلې اسلحې به پورته کړو. دکفارو په مخکې به خپلې سينې سپر کړو. زمونږ مينه او اطاعت د مېړنيو لپاره ده. دبې همته او کوڅه ډبو لپاره نه ده. که دوی زمونږ دابرو او عزت ساتنه نه شي کولای، دقيامت پر ورځ دې دخدای (ج) دغيرتي بندګانو په کتار کې ددرېدو تمه نه کوي.

داسلام لوڼې که نن چاته ورور وايي هغه به دمحمد بن قاسم په څېر غازي وي چې دقوم ديوې لور په فرياد يې په ولس کلنۍ کې يو هېواد فتحه کړ. هغه به دمعتصم بالله په څېر غيرتي ځوان وي، چې دمسلمانې خور فرياد ورته ورسېد، لبيک يې ورته ووايه اوهغه يې دکفارو له منګولو څخه آزاده کړه. دقيامت پر ورځ به هره مسلمانه مېرمن خپل بې همته مېړه هېر کړي، دخپلې خور په هغه مېړه به فخر کوي چې جامې يې دشهادت په وينو رنګ وي. پر هغه ورځ به مسلمانې ميندې وايي، چې زمونږ زامن هغه بې همته او بې زړه نه دي چې دغليم دمرميو ګوزارونه يې په خپل ټټر وانه خيستل. زمونږ زامن هغه غازيان دي، چې مېړانې او غيرت يې مسلمانې ښځې دنړۍ په ټولو ښځو کې سرلوړې کړې. که دوی غواړي چې مونږ يې په وياړ سره خپل وروڼه وبولو، نو دوی ته ښايي چې پر خپلو چپنو دشهادت دوينو خاپونه راوړي. مونږ ته دې خپل بدنونه را وښيي چې دغليم په مرميو سره ټپي وي. مونږ به هغوی ته دفتحو ترانې ووايو. پر قبر به ورته ګېډۍ- ګېډۍ ګلونه کېږدو. پر زخمونو به ورته ملهم او پټۍ ولګوو.

او په اخر کې موږ هغه چاته ورور ويلی شو، چې دقربانۍ او سربازۍ ډګر ته وړاندې شي. زمونږ مينه، محبت ،اطاعت ،او موسکاوې يوازې او يوازې دمېړنيو او غيرتيانو لپاره دي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمسلمه امت ځوانانو! آیا دې ته تیار یاست، چې ددې خویندو وروڼه شئ؟ دې غیرتي خویندو خو خپل دورورګلوي شرایط درته وړاندې کړل. اوس تاسو څه کوئ؟ آیا د مېړنیو په کتار کې درېږئ که د بې همتو؟ تاسو ته د قرباني، او سربښندنې لاره خلاصه ده. نن سبا چې ته غیرت ونه کړې، بیا به یې کله کوې؟ ددې مظلومو خویندو د بې کسۍ تصور وکړه، د قوم د هغو لوڼو کریږو او فریادونو ته غوږ ونیسه چې پاکو لمنو ته یې د وحشي کفارو لاسونه ورغځېدلي دي، آسمان ته په حیرت او حسرت سره ګوري. او په ژبه یې دا وینا جاري ده چې هغه زمونږ د عصمت او ابرو ساتونکي په کومه ولاړل؟ زمونږ په غیرتي بچیانو او زړورو وروڼو څه وشول؟

په آزاده نړۍ کې چې پر محکومو ولسونو کوم د ظلم اورونه بل دي، دا اورونه نه مړه کېږي. د دې اور بڅري به تازه کېږي. د دې اور لمبې به خامخا د ظالمانو تر محلونو رسېږي. دا واقعات چې مونږ درته ذکر کړل، دا د نړۍ د ظلمونو داسي مثال دی لکه مشت نمونهٔ خروار. په برما کې ماشومان په اور سوځول کېږي، په سوریه، عراق، فلسطین، مصر، سوډان،صومالیا، چیچنیا، او د نړۍ په نورو اسلامي هېوادونو کې چې کوم ظلمونه ترسره کېږي مونږ ترې ناخبره یو او د هغو ټولو د بیانولو طاقت له چا سره نشته.

خو کوم د ظلم اور چې زمونږ په ګران هېواد کې بل دی، دا نه مړ کېږي. دغه اور چې د پنجوایي د زنګاواټ او سیاګرد معصوم ماشومان او تور سرې یې سوځولې دي هېڅ کله نه شي مړ کېدای. له دې اورونو به د انتقام لمبې پیدا کېږي. له دې مظلومو وینو به د انتقام جذبه راپورته کېږي. په دې خاوره کې به داسې غازیان پیدا کېږي چې د ظلم له غرونو سره به ډغرې وهي. دا جګړه به هغه وخت پای ته رسېږي چې کله د غازیانو او مسلمانانو د وینو اخېرني څاڅکي هم وڅڅېږي.

د یو اولس د عظمت داستانونه تل په هغو وینو لیکل کېږي چې تویېدلو ته بې تابه وي کله چې وینې وڅې شي اوښکې بیا نه پکارېږي. نن چې د حق او باطل تر منځ ستره معرکه روانه ده، د مادي نړۍ د سپر طاقت او د ایمان مقابله ده. موږ پر هغه خدای جل جلاله باور لرو چې ۳۱۳ تنه یې پر زرکسانو بریالي کړل. زموږ خدای هغه دی چې که مو من ژوندی وي غازي او که مړ شي شهید به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ خدای هغه ذات دی چې د قیصر او کسرا مغرور تاجونه یې د سارایي عربو په پښو کې وغورځول. مونږ د خپل پیغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د حقې وینا تصدیق کوو چې فرمایې (الجهاد ماض آلی یوم القیامة) مونږ به تر قیامته د ظلم او کفر په خلاف جنګیږو

نړیوالو صلیبي او یهودي مستکبرینو چې د اسلامې نړۍ د زوال کوم خوبونه لیدل، نن یې د خوبونو تعبیر سرچپه را وخوت او دا ارمانونه یې له خاورو سره خاورې شول.

که صلیبي یرغلګرو پر هغه خاوره چې پر سینه یې د محمود غزنوي، احمدشاه ابدالي، او اکبرخان یادګارونه لیک دي او د غیرتي بچیو د وینو په څاڅکو سره تازه ، سمسوره او آزاد ه وه ناروا پوځي یرغل وکړ؛ خو ددې خاورې غیرتمنو بچیانو یو ځل بیا د پلرونو هغو زنګ وهلیو اسلحو ته لاس کړ، چې څو ځلې یې د دې غلیم پر باباګانو ګرمې کړې وې.

د دې خاورې فدایي بچیانو د نړۍ په تاریخ کې هغه زرین باب جوړ کړ چې د بدن په غوښو، هډوکو، او وینو به لیکل کیږي.

دې اتلانو نړۍ ته دحریت زیری ورکړ. د نړۍ سپر طاقتونه یې را ځملول. د نړیوالو غرور یې مات کړ. د اسلام جنډه یې هسکه کړه. د نړۍ د محکومو او کړېدلو مسلمانانو زړونه یې یخ کړل. هو: د حقې لارې مجاهده! د نړۍ د ټولو مظلومو مسلمانانو د امید او هیلو سترګې ستا په لور کږې دي. په داسې وخت کې د امت وروستۍ ارزو ته یې. ته مو د وخت ایوبي یې. ته د نړۍ د مسلمانانو د خوبونو تعبیر یې او ته مو داسلامې امت وروستی مورچل یې.

۱۳۹۳\۳\۲۶

ننګرهار اسلامي پوهنتون

**تصحیح**: ۱۳۹۳\۶\۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**